

# د انگریزانو پنجابی جاسوس

ژباړن:

ارواښاد محمد يوسف ايازي

Download from:aghalibrary.com

# دانګرېزانو

## پنجابی جاسوس

ژباړن

اروابناد محمد يوسف ايازي

Download from:aghalibrary.com

د چاپ ټول حقوق په خپرندویه ټولنه اړه لري

**کتاب پېژندنه :**

د کتاب نوم :: د انګرېزانو پنجابي جاسوس

ژباړن :: اروانباد محمد یوسف ایازي

خپرندوی :: سنځر خپرندویه ټولنه/کندهار

چاپ زیار :: حاجي عبدالله علیزی

کمپوز او ډیزاین :: مطیع الله روهیال

چاپکال :: ۱۳۸۷ ش - ۲۰۰۸ ع - ۱۴۲۸ - ق

شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

د پښتۍ ډیزاین افغانزی

چاپچارې [redacted]

Download from:aghalibrary.com

بسم اللہ الرحمن الرحیم

Download from:aghalibrary.com

# فهرست


۱. یادونه........................ ۱

۲. لومړی فصل-د جرم ارتکاب ........ ۳

۳. دوهم فصل-مصطفی صغیر............ ۱۹

۴. دریم فصل-د خلافت جمعیت حلیف حزب ...... ۵۱

۵. ثلرم فصل-بندي کېدل ........ ٦۵

٦. پنځم فصل-اعدام ........ ۷۰

۷. شپږم فصل-جنانه خپل مقصد ته رسېږي ....... ۷۷


Download from:aghalibrary.com

# یادونه

دا واقعه چي زموږ محترم لوستونکي یې لولي هغه وخت پېښه سوې ده چي د نړۍ لومړۍ لوی جنګ و پای ته ورسېدی او په ۱۹۲۰ عیسوي کال کي د هغه وخت د متحدینو یعني د انګلستان او فرانس قواوي په استانبول چي د هغه وخت د تورکیې د عثماني کورنۍ د سلطانانو پلازمېنه (پایتخت) و، ور داخل سوي او اشغال کړې یې وه.

انګرېزانو غوښتل چي تورکیه بالکل له منځه واخلي او یا لااقل ځیني برخي یې و یونان ته ورکړي او تورکیه دومره ضعیفه او کمزوره کړي چي د نېستۍ په حالت کي وي او بل تر لاس لاندي تر دې حد بې واک او بې قوې وي چي هیڅ ونه کړای سي، لیکن لکه چي وایي : "دشمن اګر قوی است نګهبان قوی تر است".

ځکه چي خدای تعالی نه غوښتل دا زمری او ننګیالی مسلمان قوم مضمحل او له منځه ورک سي، بلکي خپل موقعیت هغسي ولري نو پر وطن یې د مینانو یوه ډله په وجود راوستله چي د هغو مشران یو مصطفی کمال پاشا چي وروسته د تورکیې لومړنی جمهور رئیس او د اتاتورک په نامه وبلل سو او عصمت پاشا یعني عصمت اینونو د تورکیې اوسنی جمهور رئیس او نور کسان وه. دوی د عالم اسلام تر ټولو لوی غلیم انګرېزانو په دې منحوسه اراده او عزم پوه سوه، نو ځکه له استانبول څخه یې و انقرې ته د تورکیې و اوسنۍ پلازمېني ته چي هغه وخت یې اوسنی حیثیت، وسعت او موقعیت نه درلود هجرت



Download from:aghalibrary.com

وکړ او هلته یې د تورکیې ملي ګوند په نامه یو جماعت جوړ کړ چې نصب العین یې د تورکیې د خاوري نجات او د یوناني عساکرو ایستل د تورکیې، د شرقي ساحلي برخي یعني ازمیر (سمرنا) و غیره علاقې او دغه ډول د استانبول څخه د متحدینو خارجول وه.

انګرېزان چې تل په ظاهره ځان د عالم شرق غمخور معرفي کوي لیکن په باطن او حقیقت کې همېشه مقصد د خپل استعماریت خپرول او ټینګول دي او د دې کار له پاره له هري وسیلې څخه کار اخلي او مختلفې ځانګي یې په وجود راوړي او د هغو په ذریعه د نړۍ په ممالکو خصوصاً په شرقي ممالکو کي د استخباریې او دغه راز نورو ادارو پټ تور غوړولی دئ. نو د خپل دې فطرت په سبب یې په پټه کوښښ وکړ چې هر ډول وي کمال آتاتورک شهید کړي او دا ډله او ګوند محوه کړي، نو د دې له پاره یې څو تنه جاسوسان چې مشر یې یو پنجابی و وګماره چې ځان په ظاهره د اسلام او تورکانو په خوږ، خوږمن او همدرده معرفي او څرګند کړي او بیا په هر قسم چې کېږي کمال آتاتورک په شهادت ورسوي او خدای ناخواسته د تورکانو شېرازه سره شو په شو کړي. لیکن د رحیم او حقیقي ساتندوی په فضل او کرم دا د انګرېزانو جاسوس ناکام او و خپلي جزا ته ورسېدی.

ایازي



Download from:aghalibrary.com

# لومړی فصل

## د جرم ارتکاب

د ۱۹۲۰ عیسوي کال د جون د میاشتې په یوه شپه یو مهیب ظلمت او تیاره د آستانې (استنبول) پر ښار غوړېدلې ده. هري خوا ته چپه چپايي ده. د ښار ټول وګړي په خپلو کورو ننوتلي د غم او اندوه په سین کې ډوب دي. د انګرېزانو د عمومي قوماندان چې په استانبول کې د هغه امر په سبب چې ده د استانبول و اهاليو ته د شپې ګرځېدو له ۸ بجو وروسته راه ورزي او يا په هوټلانو، قهوه خانو او نورو تفريح ځايو کي ټولنه وکړي د انګرېزانو عسکري عمومي قوماندان د حفظ ماتقدم په سبب دا امر کړی دئ ځکه دی پوهېږي چي په دې ورځو کي استانبول د خفيه ټولنو ځانګو او د انقرې د احرارو یعني کمالیانو د پروپاګنډ دوهم مرکز ګرځېدلی دئ او د دې ځای وطن دوست وګړي او زلميان د دوی په طرفداري او حمايت کې د مرکز (انقره) د رارسېدونکو هدایاتو سره سم اجراآت کوي. نو په دې سبب د انګرېزانو عمومي قوماندان ډېر ده چي مبادا د دوی د تحریک په اثر یو پلا د استانبول په ښار کې یو عمومي انقلاب پېښ سوی هري خوا ته ډب و آخ پېښ نه سي.

په دې وخت کې د استنبول د ښار ټوله سړکونه، بازارونه او کوڅې د خلکو له تردد او تګ و راتګ څخه بالکل خالي دي. که چیري کوم څوک پر سړک، بازار او یا کوڅه کې لیدل کېږي نو هغه د متحدینو هغه عسکري دستې او بلوکونه دي چې د حفاظت او آرامۍ د ساتنې په نامه د عسکري قوماندان په امر د ګزمو او یا د تعین سوي پیرو په څېر ولاړ او یا ګردش کوي. پر هغه سړک چې د ښکلي (مارمورا) بحیرې پر غاړه اوږد واقع دئ او له سرکجۍ څخه تر فاتح پوري چې ټوله د مسلمانانو محله ده او پرته د مسلمانانو د بل مذهب کوم سړی استوګه نه پکښې کوي د عساکرو کوچنۍ کوچنۍ ډلې ټوپک پر اوږه تګ راتګ کوي. په دې دستو کې اکثر ایطالوي او فرانسوي عساکر دي. پر هغو سړکانو او کوڅو کې چې د (پل غلطه) څخه و پیرا او تر (بیک اوغلو) تللي دي بېله انګرېزي او څه یوناني عسکرو بل د ښار سړی نه لیدل کېږي. هري خوا ته د مرګ په څېر چپه چپایي ده او بېله دغو ګزمو د پښو له کړپې څخه بل شی نه اورېدل کېږي.

په دې ورځو کې که چیري کوم سیاح د تورکیې و دې ښکلي پلازمېنې ته چې څو کاله دمخه د سیاحینو مرکز ګڼل کېدی او له هري خوا به یې د دې ښکلو او قدرتي مناظرو د لیدلو له پاره هجوم راوړ، راسي او دا وېروونکې منظره وګوري چې د ښار هغه استېدونکي چې پخوا به تر نیمو شپو په ګرځېدو او خرید و فروش اخته وه او س ټوله په خپلو کورو ننوتي دي، نو به ډېر متاثر سي. هغه ښکلي او عالیشاني ماڼۍ چې د مارمورې د بحیرې پر دواړو غاړو یعني پر یوه غاړه چې د آسیا خاوره او پر بله غاړه چې د اروپا خاوره ده، آباد دي: خاموشۍ و بې رڼایۍ په سبب په هدیرو کې ولاړ شین غزیو په څېر مهیب او

مخوف ښکارېږي. نرى شمال چلېږي او بيله هغه رپېږدو ونکي پو ښهاري څخه چي د درياب پر غاړه د ماڼيو په ښو او باغچو کي له ولاړو سرو او ناجوګانو له ونو څخه د باد د چلېدو په سبب پورته کېږي بل هيڅ ډول ږغ نه اورېده کېږي. دا د سرو او ناجوګانو ونې داسي ښکاري لکه چي مړي له هديرو راپورته سوي دي او د ژونديو په پلټنه کي يوې خوا او بلي خوا ته سرونه کړوي.

څو کاله د مخه استانبول د ترکيې د يوه ښکلي او زړه وړونکي ښار په څېر پر دې غوړېدلې نړۍ آباد و، او د ميني او محبت، امن و امان، عيش و عشرت، خوشحالۍ او مسرت مرکز او زانګو وه. د دې ښکلو قصرو، ماڼيو او عماراتو څخه د موسيقۍ زړه وړونکي ږغونه پورته کېدل. په هسکو او زړه وړونکو او متحير کوونکو مسجدو کي به د شپې له خوا د واحد خدای د عبادت کوونکو هجوم ليدل کېدی. مسجدونه به د برېښنا په څراغو لکه ورځ روښانه وه، د بحيره مارمورا آسيايي غاړه په چي د (قناربولي) څخه تر (ارن ګوئي) اوږده پرته ده د ګلابو د پراخو قطعو او نورو خوشبويو ګلانو وږمه به د بحر د غاړې ټوله هوا معطره کړې وه، دا هغه دارالاسلام دئ چي په هغه کي د حضرت رسول اکرم ﷺ صحابي حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه استراحت لري. دا هغه اسلامي مرکز دئ چي په هغه کي د پاصوفيا په څېر ښکلي او وتلي مسجد آباد دئ. آه! نن څه ورپېښه ده چي يو په يوه په دلخراشو او حزن راوړونکو مناظرو مبدل سو؟ اوس ولي د هغه عظمت او شکوه پر ځای د ياس او مړاويتوب مجسمه او مرقع ګرځېدلی دئ؟ دا ځکه چي د پردو قومو عساکر په دې ښار راننوتلي خپله آغايي او حکمراني پر کوي. د دوی آزادي يې ورسلب کړې ده. د دوی پر حرکت قيودات اېښوول سوي دي او د محکومينو په څېر

معامله او سلوک ورسره کېږي. د شپې د وتلو او ګرځېدلو اجازه ورته نسته.

د (۱۹۲۰) عیسوي کال د جون د (۹) تاریخ په شپه چې د استانبول پر ښار چپه چپايي او تیاره غوړېدلې ده او هیچا ته د وتلو اجازه نسته یو هندوستانی سړی چې دودیرش (۳۲) کلن ښکاري د دې ښار په تنګو کوڅو کې د انګرېز عساکرو چې پر پیرو ولاړ او پر ګزمو ګرځېدل تر منځ تېرېږي او ګرځي. که چیري کوم عسکر پر ده اشتباه وکړي او یا د ده څخه په دې توره شپه د راوتلو سبب او علت وپوښتي نو دی د شپې د ګرځېدلو اجازه نامه و دوی ته ورو ښیي. عسکر چې دا اجازه نامه وګوري یو ګام تر شا سوي و ده ته سلام وکړي.

د دې سړي د قیافې څخه داسي ښکاري چې دی لوړ شخصیت لري او د اقتدار خاوند دئ. انګرېز عساکر پر هر بندر باندي خپل اطمینان حاصل کړی او بیا و ده ته عسکري سلام وکړي او نور مزاحمت یې نه کوي.

هندي سړی د (سرکجي) له ګذر څخه تېر سو او هغسي لاري ته راواوښت چې د ایاصوفیا د جامع و خوا ته ځي. په سرعت سره یې هغه پراخ میدان چې د سلطان احمد جامع او ایاصوفیا جامع تر منځ واقع دئ قطع کړ او بیا و هغې تنګې کوڅې چې د بحیره مارمورا و خوا ته تللې ده وګرځېدی. تر څو دقیقو تلو وروسته د دریاب د غاړې و سړک ته راووت او س د ده مخامخ د بحیرې پر هغه غاړه د آسیا د براعظم خاوره ده او دی پخپله د اروپا پر خاوره ولاړ دئ. د ده په وړاندي د بحیرهٔ مارمورا پر هغه غاړه د (اسکدار) مقام د توري شپې د ماتم په تور لباس کي نغاړلی واقع دئ او د سرو او ناجوګانو جګې ونې یې

داسي ښکاري لکه چي د ېبان يو له بله څخه ليري ولاړ او پوسه هاری لري.

دا هندوستانی سړی چي د بحيرې و غاړه ته ورسېده يو څو دقيقې ودرېدی او بيا د هغه عمارت و خوا ته رهي سو چي د سړک پر غاړه مخ و بحيرې ته واقع دئ. هر کله چي د دې عمارت و دروازې ته ورسېدی نو په دقت سره يې شاوخوا وکتل. وروسته تر هغه چي ښه يې يقين سو څوک د ده تعقيب او څرک نه وهي نو يې ورو دروازه خلاصه کړه او په عمارت ورننوتی. دروازه يې بيرته په ځان پسې وتړل او په ځينو کي وخوت. تر دهلېز تېر سوی و يوې لويي خوني ته ورغی. د دې خوني کړکی د بحيرې و خوا ته خلاصېدلې، يو نری تلاطم په بحيره کي ليدل کېږي او څپې يې د غاړي سره موښتي.

هندوستانی چي و لويي خوني ته ورننوتی نو سم دستي يې څراغ ولګاوه او پر چوکی باندي و يوه مېز ته کښېنوست، له جيبه څخه يې کاغذونه را وايستل او تر ډېر وخت پوري د هغو په لوستلو بوخت و، د مکتوبو تر مطالعې وروسته له چوکی څخه راولاړ سو او و يوې کړکی ته د بحيرې و خوا ته ورغی او ورو يې خلاص کړه. سر يې له کړکی څخه وايستلی و بحيرې ته يې په ځير وکتل. تر څو دقيقو وروسته يې په رمز سره وټوخل. د بحيرې له خوا څخه يې نري شپېلکی تر غوږ سو. د دې شپېلکي د ده تندی وغوړاوه، لږ څه يې په لوړ ږغ وويل :-

"درمهار ! ته يې؟"

يو په يوه د بحيرې و غاړي ته يوه کوچنۍ کښتۍ راغله او يو کوچنوټی څراغ ولګېدی. د څراغ په خفيفه رڼا کي يو سړی ښکاره سو چي هغه هم هندوستانی و او دغه سړی درمهار نومېدی. کښتۍ د

بحیرې و غاړې ته ومښته او درمهار ځني راکښته سو او په هغسي لوړ
ږغ يې وويل :-

"محترم راجا ! درغلم".

وروسته د عمارت و دروازې ته ور رهي سو. هندوستاني سړی هم د ځينو له لاري راکښته سوی دروازه يې ورته خلاصه کړه درمهار داخل سو او دروازه يې ژر بنده کړه په ګډه د ځينو له لاري و هغه لويي خوني ته راغلل. هندوستاني سړی بيرته پر خپل ځای پر چوکۍ باندي د ميز و مخ ته کښېنوست او درمهار د ده و مخ ته د مېز پر هغه بله خوا پر چوکۍ کښېنوست. وروسته هندي سړي ورته وويل :-

"درمهار ! ووايه په خپل مرام کي بريالی سوې او که يه؟"

درمهار : "محترم راجا ! زه په خپل مقصد کي کامياب سوم او ما هغه ځای چي په هغه کي د کمالي ګوند (احرار تورکان) ټولنه کوي کشف کړ".

هندي سړی : "ښه واقعه راته ووايه چي څنګه کامياب سوې؟ وګورم څومره زحمت دي ګاللی دئ؟"

درمهار : "زه د قاضي کويي د محلې د يوه غريب سړي په توسط بريالی سوم او د هغه سرای پر دېوال هم وختم چي په هغه کي کماليون غونډه کوي".

هندي سړی : "ته قاضي کويي ته هم تللی وې؟"

درمهار : "هوکې ! هغه سرای چي ما يې ذکر وکړ د بحيره مارمورا پر غاړه واقع دئ. په دې سرای کي د کمالي ګوند ټولنه کوي او دوی دا سرای د دې له پاره ټاکلی دئ چي دغه ځای له آستانې (استانبول) څخه څه واټن ليري دئ، او هيڅوک و دې خوا ته نه متوجه کېږئ".

هندی : "آیا ته کولای سې چې د کمالیونو د ګوند غرض او غایه معلومه کړې چې دوی څه مقصد لري؟"

درمهار : "هوکې ! ولې یې نه سم معلوم مولای. تاسې به د خپلې وعدې سره سم زما د دې خدمت ښه معاوضه راکړئ".

هندي سړي چې د درمهار وروستني الفاظ او جمله واورېده له نو یې وخندل او بیا یې ورته وویل :-

"درمهار ! مطمئن اوسه ستا د زحماتو او کوښښو به ښه معاوضه درکړه سي. ښه اوس نو کیفیت راته ووایه. ستا کامیابۍ زه خوشحال کړم او ډېر در څخه راضي یم".

درمهار چې د هندي سړي له تعهد او اظهاراتو څخه مطمئن سو او ویې لیدل چې هندی سړی په ډېر اشتیاق او مینه د واقعاتو د اورېدو له پاره غوږ نیولی دئ نو یې وویل :-

"زما آغا مصطفی صغیره (د هندي سړي نوم دئ) دا زما له قوي څخه وتلې ده چې زه و تاسي ته ستاسي پر کامیابۍ لکه چې ښایي تبریک ووایم. یوازي ستاسي په متانت، فراست مدبرانه اقداماتو او لارښوونه زه کامیاب سوم چې د آستانې د مسلمانانو پر جذباتو عبور حاصل او دوی خپل معتقد وګرځوم. ما د استانبول وګړي په دې متیقن کړي دي چې تاسي د هندوستان د خلافت کومیټې یو فعاله او خورا مینه درلوونکی غړی یاست. د استانبول وګړو تر دې یقین حاصلولو وروسته ستاسي څخه خورا لویې هیلې لري. هیڅوک تاسي د حال له حقیقت څخه خبر نه دئ. حتی اوس دوی دا ټینګ یقین لري چې تاسي د اسلامیه جامعې یو صحیح او صادق غړي یاست، محترم آغا ! لنډه عرض به و تاسي ته وکړم، چې اوس تاسي د دې مملکت د مسلمانانو پر جذباتو او احساساتو بشپړ اقتدار لاس ته راوړی دئ.

زه د جون په (۷) تاریخ په کښتۍ کي سپور سوم او د (سرای بیروني) ښخه و (قاضي کويي) ته وخوځېدم. هلته چي ورسېدم نو يو وطندوست تورک مي وموند چي هغه د شرق او اسلامي مسائلو سره ډېره مينه درلوده. ما د هغه سره مينه ډېره ښکاره کړه او د هندوستان پر ويښتوب او سياسي وضعيت باندي مي خبري ورسره شروع کړې زه ډېر ورسره بې تکلف سوم او داسي مي ورته څرګنده کړه چي د هندوستان مسلمانان د خلافت د مسئلې سره ډېره علاقه او مينه لري او د خلافت په لار کي د قدر وړ اقدامات او اجراآت کوي. دې سړي زما و خبرو ته په ژوره مينه او توجه غوږ نيولی و. ما چي به د ده مينه او توجه په دې اندازه وليدله نو په زړه کي خورا خوشحاله سوم او يقين مي سو چي دا سړی ما د خپلو جعلي خبرو په تورکي ونيوی. د ده سره مي خبري کولې او ورو ورو مي خبره د انقرې د تحريک و خوا ته راوګرځوله، دی د انقرې له واقعاتو څخه ډېر متاثر سو او جذبات يې پر ښور راغله، د حماست جوش بې طاقت کړ فوق العاده بريښ يې په سترګو کي ښکاره سو. ده و ما ته وکتل او وې ويل: وګوره په دې وخت کي سره د هغه چي د انقرې روابط د ټولي نړۍ سره شلېدلي دي خو بيا هم دغه د اسلام مينان د عالم اسلام خصوصاً د هند د آزادۍ له پاره څومره زيار کاږي. که څه هم په هندوستان کي په کروړو مسلمانان سته ليکن تر اوسه هيچا زموږ سره مرسته بلکي د همدردۍ اظهار لکه چي ښايي نه دئ کړی. موږ (اصرار تورکان) ټل خپل ټټرونه د هغو مظالمو په مقابل کي چي انګرېزان يې د شرقي مملکتو او هندوستان سره کوي سپر ګرځولي دي او هيڅکله مو د شرق د مصالح او فلاح له پاره له قربانۍ ورکولو څخه ځان نه دئ ژغورلی، حتی په دې لار کي د خپل زړه ټوکران او اولاد مو هم قربان کړي دي.

ما چي د دې سړي ديني ټينګار، اسلامي جوش او په عين حال کي سادګي وليدله نو ټينګ يقين مي سو چي دا سړی ضرور زما په دام کي لوېږي. ځکه اکثراً ليدل سوي دي متدين خلک د هغو خلکو په مقابل کي چي مذهبي عقيده يې خرابه وي ژر فرېب خوري. په هر صورت ما د هغه سړي طبيعت فوراً درک کړ او د ده په وړاندي مي د تزوير دام وغوړاوه او د کماليونو (احرار تورکان) تعريف او توصيف مي شروع کړ او دا مي ورته ځرګنده بلکي وريقين کړه چي د ټوله عالم اسلام د کماليونو سره نه صرف همدردي لري بلکي ټينګ عزم يې کړی دئ چي د دوی سره همکاري وکړي ملا يې ټينګه وتړي. تر دې وروسته ما ستاسي نوم و ده ته ور واخيست او ورته ومي ويل چي وګوره څومره تکاليف او زحمتونه يې ګاللي له کوم ځای څخه و استانبول ته راغی چي د خپل ګوند خلافت له خوا هر ډول مرسته د انقرې د کماليونو سره وکړي او شپه و ورځ په دغه کار بوخت دئ. زه اميد لرم ژر به دی (مصطفی صغير) بشپړ همکاري د انقرې د ګوند سره وکړي او په خپل مهم مقصد کي به کامياب سي.

دې تورک چي ستاسي نوم واروېد، تندی يې له خوشحالۍ سره وغوړېدی، وې خندل او ويې ويل :-

"بېشکه زموږ دا مسلمان ورور (مصطفی صغير) عالم اسلام خصوصاً د توکرانو سره د زړه مينه او محبت لري او د دغي ميني په اثر له هندوستان څخه تر دې ځای پوري راغلی دی او غواړي چي د تورکانو د وطني جد و جهد له پاره کار وکړي او د هند د مسلمانانو او ترکانو تر منځ علايق زيات کړي، ټينګه همکاري وکړي دا هم رامعلومه ده چي دی په هندوستان، افغانستان، ايران او عراق کي د ښه رسوخ او اقتدار خاوند دئ؟ هر کله چي ما د خپلي خوا و ده ته پوره

اطمینان ورکړ نو ده اصرار وکړ چي د ده سره څو شپې تېري کړم. ځکه چي دی هم مجرد و نو ما هم ورسره خوښه کړه او تر څو شپو تېرولو وروسته چي زما یقین سو دا سړی چي نوم یې (ذکي بک) و او زما اخلاص او محبت ورته ثرګند او او س پر ما بشپړ اعتماد لري نو یوه ورځ سهار مي د خبرو په ترځ کي ځني وپوښتل چي زه تر اوسه په دې نه یم پوهېدلی چي کمالیون د څه مقصد له پاره د یونانیانو سره جنګېږي او د روس د بالشویکانو سره یې څه د دوستی تعلقات قایم کړي دي له دې څخه څه ګټه ده؟ آیا دا تعلقات څه ګټه هم رسولای سي او که یه؟

ځکه چي ذکي بک خورا دیندار او ساده واقع سوی و نو په دې زما د پوښتني په شاوخوا کې هیڅ فکر ونه کړ او هیڅ ډول تردد ورپېښ نه سو، ځکه نو بېله تامل او ځنډه یې راته وویل :-

"د کمالیونو تورکانو دا ټوله زیار او هڅه او س صرف د دې له پاره ده چي تورکیه د متحدینو له پنجې څخه خلاصه کړي او یو مستقل سلطنت جوړ سي او هم کوښښ کوي چي په مشرق کي د انګرېزانو و رسوخ او اقتدار ته صدمه ورسوي، بلکي غواړي د انګرېزانو نفوذ محوه کړي. د دوی لومړی او مهم مقصد دغه دئ".

تر دې وروسته ذکي بک راته وویل چي په آستانه (استانبول) کي هم یوه پټه ټولنه سته چي راساً د کمالیونو سره اړه او ارتباط لري او دا ټولنه شپه او ورځ د برطانیا د اقتدار او نفوذ په تباه کولو بوخته ده".

بیا ده د هغو خلکو نومونه راوښوول چي د دې ټولني غړي دي او دا یې هم راته وویل چي دی پخپله هم د دې ټولني یو غړی دئ. تر دې بیان وروسته ده زما څخه هم په ټینګه وغوښتل چي زه هم د دې ټولني یو غړی سم او و هغو مجلسو ته بېله شلېدلو او ځنډ ییښېدلو په قاضي

کويي کي چي د متحدينو د عسکري نګرانۍ ځخه ګوښه واقع سوی دئ د شموليت له پاره حاضر سم. ما هم ټينګه وعده ورسره وکړه. هر کله چي ما بشپړ معلومات له ده ځخه لاس ته راوړل نو ماپښين مي له ده ځخه رخصت واخيست او ورته ومي ويل چي زه د يوه کار له پاره ځم انشاء الله سبا به بيرته راسم او بيا به مصلحت سره وکړو. هر ډول چي ته مشوره راکړې هغسي اجراآت به وکړم او په ګډه به و دې اسلامي خدمت ته ملا وتړو. د ده ځخه چي رخصت سوم او شپه مي په يوه هوټل کي تېره کړه. سبا د خپلي وعدې سره سم د بحيره مارمورا پر غاړه پر هغه ځای يعني د ذکي بک په کور کي مي د ده سره کتنه وکړه. دی زما له راتګ ځخه ډېر خوشحال سو. مازديګر ما او دی د کوره راووتو او ورو ورو دوه په دوه د بحيره مارمورا پر غاړه چي هيڅوک نه وه په قدم وهلو مصروف سوو.

ما هم د بحيرې د غاړي له دې ښکلي منظرې ځخه چي و مړي ته يې ژوند باخښه خوند اخيست. لمر ورو ورو شانه ورانه د لمر لوېدو خوا ته تی او وروستنۍ وړانګي يې د بحيره مارمورا پر خاموشو ځپو لوېدلې، د مين او ميني د ناآرام زړه په ځېر رېږدېدلې او داسي ښکارېدلې لکه چي څوک سره زر پر چا پاشي. هوا ټوله د شاوخوا د ګلانو په وږمو معطره وه. د بلي خوا د لمر طلايي وړانګي د آستانې د جوامعو پر لوړو منارو او قبو ځلېدلې. په دې وخت کي ما د ذکي بک سره د استانبول پر دې زړه وړونکو مناظرو باندي مذاکره کوله. لنډه دا چي موږ دواړه ورو ورو خبري سره کولې او له يوې محلې ځخه و بلي محلې ته تلو څو هغه و قاضي کويي ته ورسېدلو.

قاضي کويي له موده ځخه دومره ليري نه دئ، بلکي د موده په منځ کي واقع دئ. ذکي بک تر هغه ځای پوري و ما ته بيانات کول او

ما غوږ ورته نیولی و، ځکه چې دی پخپله هم د کمالیونو له ډلې څخه و نو یې د هغو په شاوخوا کې معلومات راکول. که څه هم دا ټوله لار چې په تنګو او پراخو کوڅو کې تېرېدله خورا اوږده وه لیکن ځکه چې په خبرو اخته وو نو دومره تکلیف یې رانه کړ. هر کله چې و قاضي کویي ته ورسېدو نو ذکي بک و ما ته مخ راواړاوه او وې مسل او د یوه عمارت د یوې کړکۍ و خوا ته چې د څراغ خورا ضعیفه رڼا ځنې راوتله اشاره کړې وې ویل:-

"زما عزیز ملګرې! دا هغه سرای دئ چې په هغه کې د کمالیونو د ګوند ملګري ټولنه کوي".

د ذکي بک دې وینا زه وربېړدولم خورا ډېر کوښښ مې وکړ چې د خپل صورت د رېږدېدو مخ ونیسم او زیار مې وایست چې ذکي بک زما په اضطراب پوه او پر ما بد ګمان نه سي او زما ټوله کړه او زحمات برباد نه سي. ځکه نو فوراً مې وخندل او ومې ویل:-

"څه مبارک سرای دئ چې د ملت او وطن د آزادۍ د جد و جهد د وګړو د ټولني او مشورې له پاره وقف دئ".

په دې وخت کې لمر لوېدلی و او تکه توره تیاره هري خوا ته غوړېدلې وه. د شرق او جنوب و خوا ته بحیره مارمورا، باسفورس، دردانیال او بحیره اسود د خپلو ژورو تورو اوبو سره باډاسکي وهلې او یو فوق العاده تلاطم پېښ و. ځکه چې ماښام سوی و او د ښار و اهالیو ته د ګرځېدلو اجازه نه وه، ټوله وګړي په خپلو کورو کې په خاموشۍ سره په خپلو کارو او استراحت مصروف وه. ما هغه سرای په خورا دقت او ژوره کتنه سره وکوت او نښاني مي کړ. دا موقع ما د خپلو مقاصدو و لاس ته راوستلو له پاره ډېره مناسبه وموندله او غوښتل مي ځان د ذکي بک څخه خلاص کړم، ځکه ده و ما ته خورا

مهم اسرار ویلي وه او په عوض کي یې اصرار درلود چي اوس نو باید زه یو جرم وکړم ځو د ده اعتقاد پر ما ډېر ټینګ سي. نو په دې سبب ما ټینګه اراده وکړه چي زه باید هرو مرو ذکي بک مړ کړم. ځکه که دی ژوندی وي نو ممکن دئ څه شکوک ورته پېښ سي او زما اسرار څرګند نه سي. تر دې ټینګ عزم وروسته ما و ذکي بک ته ویل راځه چي د یو څو دقیقو له پاره د بحیره مارمورا پر غاړه وګرځو او له دې ښه هوا او موسم څخه استفاده وکړو. ذکي بک هم زما خواهش ومانه او دواړه د قاضي کویي څخه د بحیرې و غاړي ته راغلو. په دې وخت کي سپوږمۍ راوخته او تیاره ځایونه یې روښانه کړل، لیکن سره د هغه ما خپل عزم پرې نښود، موږ دواړه ورو ورو د بحر و غاړي ته نزدې سره تلو څو و یوه داسي ځای ته راغلو چي د سړک پر هغه څنډه چي و بحیرې ته ور څرمه وه یوه باغي چوکۍ پرته وه. ما د ذکي بک څخه د یو څو دقیقو له پاره د کښېنستلو غوښتنه وکړه، ده هم راسره خوښه کړه او دواړه مخ د بحیرې پر لور پر چوکۍ کښېنستلو. په دې وخت کي زموږ په شاوخوا کي هیڅوک نه وه. د بحیرې د باډاسکو په سبب ږغ نه اروېدل کېده. ما دلته د ده سره خبري شروع کړې او دی مي بالکل غافل کړ، هر کله چي بشپړ یقین مي سو چي دی بالکل غافل دئ نو په یوه پلا مي ور حمله کړه او د ده ستونی مي په دواړه لاسو داسي ټینګ ونیوی او کښېمیکښ چي فوراً یې ساه وپېچله سوه. څو کلکي خپي مي ټوري ورکړې. په ظرف د څو دقیقو کې ساه وختله، د کوټې کیلۍ مي د جېبه څني وکښله وروسته مي پر اوږو واخیست او د بحیرې و باډاسکو وهونکو اوبو ته مي وسپاره. د بحیرې تندو څپو د ده مړی یووړ، زه مطمئن سوم ګواکي ما هیڅ د وژلو ارتکاب نه و کړی.

تر دې اجراآتو وروسته زه په بې غمه زړه بیرته و قاضي کویي ته

راغلم او ځان مي و هغه سراى ته ورساوه چي په هغه كي د كمالي ګوند اعضاو غونډه كوله. تقريباً نيمه شپه وه. زه د شا له لاري و هغه باغ ته ورواوښتم چي نوموړى سراى پكښي واقع و او بيا په يوه لو ونه كي چي و كړكۍ ته مخامخ وه وختم له ښه مرغه د دغي كړكۍ هنداري ماتي وې او د څراغ په رڼا كي دغه كوټه ښه ترا ښكاريدله، ما وليدل چي كماليون يو يو غلى، غلى راتى او په سراى به ورننوتل. زه تر ډېره وخته پوري په ونه كي پټ ناست وم او د دوى مراقبت مي كاوه. تر يوه ساعت وروسته دوى و دغي لويي كوټې ته راغلل او مجلس يې شروع كړ. ما د دوى ټوله اجراآت وليدل او بشپړ مي يقين سو چي دا هغه ډله ده چي موږ يې په څرك وهلو پسې يو. بيا له هغه ځاى څخه مي ځان د ذكي بك و كوټې ته راورساوه. شپه مي هوري تېره كړه او سهار د سپېدو چاودلو سره له هغه ځاى څخه راووتم. دوې ورځي مي په هوټل كي تېري كړې او د كماليونو د ډلي نور معلومات مي پسي بشپړ كړل او نن مابښام له هغه ځاى څخه په كښتۍ كي را رهي سوى دا دئ تاسي ته مي ځان راورساوه. او س زه په خپله وظيفه كي كامياب يم او د كماليونو ټوله كيفيت مي لاس ته راوړى دئ". دا يې وويل او پټه خوله سو او د مصطفى صغير و مخ ته يې په ځير وكتل.

په دې وخت كي د مصطفى صغير ښه بل رنګ سوې وه. صورت يې سره رېږېدى او په ډېره بېتابي سره به په چوكۍ كي يوې خوا او بلي خوا ته كېدى، ګواكي له يوې خوا دى له دې كاميابۍ څخه خورا خوشحال دئ او د بلي خوا د سړي د وژلو څخه متاثر ښكاري. درمهار چي پټه خوله سو نو مصطفى صتير خورا بېتابه سو او په لوړ ږغ يې و درمهار ته وويل :-

"ولي پټه خوله سوې نور بيان وكړه (مسټر نيلسن) چي په دې

ښار کي د استخبارايې او جاسوسۍ د ادارې رئيس دئ که چيري تا خپل خدمت په ديانت او صداقت سره وکړ نو تا ته به ښه معقوله معاوضه او مکافات درکړي، ښه بيا نو څه وسو؟"

درمهار چي مصطفی صغير بېتاب ومونډ نو يې وويل :-

"د استانې (استانبول) د کمالي ټولني مقاصد او اغراض کټ مټ د انقرې د ټولني په څېر دي، يعني دوی غواړي په عالم اسلام کي د برطانيا پر خلاف نفرت او بېزاري پيښه کړي او دوی له انګرېزانو څخه متنفر کړي. د آستانې کمالي ټولني دا ټينګه اراده کړې ده چي دوی به په استانبول کي و خپلو تبليغاتو او پروپاګنډ ته ادامه ورکوي او دلته به د انګرېزانو د برخلافۍ مواد سره راغونډوي او د فتنه و فساد اور به لګوي. ما صرف تر اوسه دومره معلومات لاس ته راوړي دي او اوس غواړم تر څو ورځو پوري و قاضي کويي ته ور نه سم ځکه د ذکي بک د مفقودۍ په سبب هلته يو هنګامه پيښه ده".

د درمهار پر وروستنۍ جمله مصطفی صغير ومسل او په عين حال کي د ذکي بک قتل دی متاثر کړ او په پای کې ورته وويل :-

"کشکي تا دا سړی نه وای وژلی، د سړي وژل خورا بد کار دئ او ټوله عمر د قاتل روح تر فشار لاندي او مضطرب وي".

که څه هم مصطفی صغير يو مجسم شيطان او د مکر و فرېب يوه ټوټه وه او د خپلو مقاصدو و لاس ته راوستلو له پاره هر ډول بد کار يې جايز ګاڼه ليکن د قتل او وينو تويولو څخه يې ښه نه راتله. تر ډېره پوري پټه خوله ناست و او په فکر کي ډوب و، په پای کې و درمهار ته مخ راوګرځاوه او وې ويل :-

"زه ستا له کاميابۍ څخه ډېر خوښ يم او تشکر کوم سر له سبا څخه به زه هڅه وکړم چي زه هم د دې ټولني غړی سم. ښه دئ اوس ته

ولاړ سه او د سلطان د ماڼۍ پلټنه وکړه او څار کوه چي څوک تګ راتګ کوي؟"

درمهار په ادب سره و مصطفی صغیر ته سر ټیټ کړ او د وره و خوا ته رهي سو، مصطفی صغیر بیا غږ پر وکړ او وې ویل :-

"و دریږه ! نه غواړم چي اوس تا خالي لاس ولیږم ځکه یو مهم خدمت دي کړی دئ او س به تا ته یو لږ څه مکافات درکړم او بیا به آینده ګورو".

دا یې وویل او مصطفی صغیر له چوکۍ څخه ولاړ سو. تجوری یې خلاصه کړه او څو دانې پونډونه یې را ایستلي و درمهار ته یې ورکړه او وې ویل :-

"دا واخله ولاړ سه په خپل کار بوخت سه".

درمهار پونډونه ځني واخیستل، تشکر یې وکړ او ولاړ.

د ده تر تګ وروسته مصطفی صغیر پر چپرکټ باندي وغزېدی او د درمهار پر بیاناتو او راپورټ یې غور شروع کړ. د ذکي بک د وژلو واقعې دی ډېر مضطرب کړی و او هره هره پلا یې تاسف کاوه چي یو بېګناه سړی چي جرم یې صرف دومره و چي و اسلامي پروپاګنډ ته یې ځان ور نږدې کړی و او په اسلامي تحریک کې ډېره دلچسپي اخیسته ووژل سو. لیکن د ده دا اضطراب تر ډېره پوري پاته نه سو او نورو افکارو غلبه پر وکړه او بلي خوا ته یې بوت، تر څو دقیقو وروسته له چپرکټه ولاړ سو کښېنته ولاړ او د سرای دروازه یې وتړله او بیرته راغلی له کړکۍ څخه یې د بحیره مارمورا و خوا ته وکتل. د درمهار کښتۍ له ځنډې څخه رهي سوې وه او د بېروني سرای څخه تېره سوې د باسفورس و خوا ته چي هلته شاهي ماڼۍ وې خوځېدله، مصطفی صغیر چي د درمهار کښتۍ چي په تېزي سره و

هغي خوا ته تله وليدله نو يې ومسل او د ځان سره يې وويل :-
"په روپو له انسان څخه څه کارونه اخيستل کېږي، دا سرکوزی شی پر ديني همدردي او مذهبي جذباتو هم غالب ګرزيلای سي. حتی په بشر کي ښه خلق، مروت، انسانيت او طبيعي همدردي هم وژني".
وروسته مصطفی صغير له کرکی څخه و چپر کټ ته راغی او پر وغزېدی او په داسي شېرين خوب بيده سو چي ګواکي ده کوم جرم نه دئ کړی او نه د ذکي بک د وژلو په جرم کي د درمهار سره شرکت لري.

# دوهم فصل

## مصطفی صغير

په انګلستان کي داسي مکتبونه او لېسې سته چي په هغو کي د پروپاګنډ (تبليغ او اشاعت) تعليم او تدريس کېږي. د دې کار له پاره تر ټولو لو لېسه په لندن کي ده چي په هغه کي په مشرق کي د پروپاګنډ کولو مخصوص اصول ورښوول کېږي او په دې لېسه کي صرف هغه کسان شاملېدلای سي چي د شرقي اقوامو په مختلفو مذهبو او عقايدو بلد او د هغو د قبايلو په هر ډول عاداتو، عنعناتو او خواصو بشپړ معلومات ولري.
مصطفی صغير د (۱۹۰۹) عيسوي کال د مخه د هندوستان په اسلامي محمديه عليګړه فاکولته کي تعليم کاوه. دی له دې

فاکولتې څخه ووت او د اعلی تعلیم کولو په نسبت و انګلستان ته وخوځېدی. لندن ته چې ورسېدی نو د ځینو لوړو انګرېزانو سره یې چې د هغو په جمله کې ماتېکو د هند وزیر هم و، لیدنه وکړه او له هغو څخه یې غوښتنه وکړه چې د ده سره یعني مصطفی صغیر سره مرسته او معاونت وکړي چې دی د آکسفورډ په پوهنتون کې د تعلیم حاصلولو له پاره شامل سي او کوښښ وکړي چې دی خپل تعلیم د آکسفورډ په پوهنتون کې د انګلستان د حکومت په پیسو وکړي. خورا ډېر زیاریې وایست، د انګلستان د ډېرو لوړو خلکو دروازې یې وټکولې، څو په پای کې دی په خپل زیار کې کامیاب سو او د انګلستان د حکومت په مصرف د اکسفورډ په پوهنتون کې د تعلیم اخیستلو له پاره شامل سو.

مصطفی صغیر درې کاله په اکسفورډ کې تعلیم وکړ، تر هغه وروسته د انګلستان حکومت و ده ته تحریک ورکړ چې دی د لندن و هغه فاکولتې ته ور ولېږي چې په هغه کې د پروپاګنډ کولو د اصولو تعلیم ورکړه کېږي. هغه و چی ده هم دا خبره خوښه کړه او نوموړي فاکولتې ته ور ولوېدی. هر کله چې ده دا فاکولته ولوستله او فارغ التحصیل سو نو د انګرېزانو حکومت دی فوري په یوه مهم کار وګماره. دا د (۱۹۱۴) عیسوي کال واقعه ده. دا هغه وخت و چې د دنیا لومړی لوی جنګ موښتی و او د مشرق او مغرب وچ و لانده یې سوځل، د جنګ لمبې هري خوا ته راخرخېدلي وې.

د مصطفی صغیر دې ماموریت په هغه مهم کار اړه درلوده چې په سویټزرلینډ کې نوی په وجود راتلونکی و، د نوموړي مملکت د جینوا په ښار کې تورکانو غوښتل چې یوه ټولنه جوړه کړي، لیکن د دې ټولني مقصد او غایه نه وه معلومه. ځکه نو د انګلستان حکومت

د دې کار له پاره مصطفی صغیر وټاکه. مصطفی صغیر چي په دې ماموریت مقرر سو نو یې لومړي خپل نوم واړاوه او د هند د مشهور زعیم او رهنما مولانا محمدعلي نوم یې پر ځان کښېښود او جینوا ته وخوځېدی. هلته چي ورسېدی نو یې فوراً د هند د نماینده په نامه ځان و دغه ټولني ته داخل کړی غړی یې وګرځېدی، تورکان د ده سره د مینې او محبت او اخلاص له لاري وړاندي راغلل. ده هم د منافقت پوښ پر ځان غوړولی خپله ژوره مینه یې و دوی ته ورڅرګنده کړه او تل به یې کوښښ کاوه چي خپل جعلي زړه سوی، مینه او همکاري په حقیقي ډول سره ور وښیي. په پای کې په منافقت سره ځان ډېر ور نزدې کړ او د تورکانو د دې ډلې اسرار یې لاس ته راوړل، او د هغه بشپړ اطلاع یې د انګلستان و خارجه وزارت ته ورکړه. د اروپا د جنګ په پای کي چي متحدینو د تورکیې پلازمېنه آستانه (استانبول) لاندې کړ او د دوی عساکر د دې اسلامي مملکت په مهم ښار کي خپاره سول، نو په انقره (د تورکیې اوسنۍ پلازمېنه) کي د تورکیې وطن دوست وګړي او اشخاص چي مشر یې مصطفی کمال پاشا و سره راغونډ سول او دلته یې یوه ټولنه د (احرار تورکانو) په نامه جوړه کړه، دې ټولني خپل اجراآت شروع کړه. انګرېزان بیا مشوش او مضطرب سول او بیا یې خپل دوست او نمکخور مصطفی صغیر راوغوښت او یو مهم خدمت یې ور وسپاره، یعنی دیې یې و آستانې ته ولېږه چي هلته تللی د ټولو هغو اجراآتو چي د انګلستان پر خلاف کېږي معلومات لاس ته راوړي او مفصله اطلاعات یې د انګلستان و حکومت ته ورکړي.

مصطفی صغیر چي استانبول ته ورسېدی نو تر ټولو لومړی یې د آستانې د وګړو په وړاندې د خپلې تقویٰ، طهارت او د افکارو بې

آلایشی تظاهرات وکړه. هر ځای به یې د ترکیې په طرفداري کې وینا وي کولې او اکثراً به و جامعګانو او مسجدو ته حاضرېدی او تبلیغات به یې کول. د تورکانو په خصوصي مجالسو کې به یې شرکت کاوه او خپله همدردي او مینه به یې څرګندوله. تل به یې د انګرېزانو څخه د نفرت اظهار کاوه او خپل بغض او عداوت به یې نسبت و دوی ته ښکاره کاوه. په لږ مدت کې خپل نفوذ د جعلکارۍ له لارې په تورکانو کې خپور او ټینګ کړ. د ده دا جد و جهد او د خلوص او صداقت اظهاراتو د استانبول په ټولو وګړو کې داسي موثر واقع سو چي نه د عوامو او نه د متوسطي طبقې څخه و هیچا ته د ده په مینه او محبت او صداقت کې شبه ور پېښېدله. هر څه چي ده ویل اهالیو پر هغه اعتماد او یقین کاوه. مصطفی صغیر یوازې خبري نه کولې، بلکي د تورکیې د ملي او مذهبي انجمنو سره به یې مالي امداد او مرستي هم کولې او د تورکیې د بې کورو او پناه ګزینانو او بېوزلو سره به یې معقول اعانت کاوه.

مصطفی صغیر په لږ مدت کې د استانبول پر مسلمانانو بشپړ اقتدار حاصل کړ. په هر ځای کې وګړو په ورین تندي و ده ته هرکلی وایه. تر دې موقعیت موندلو وروسته ده کولای سوای چي د عموم اهالیو افکار په سهولت سره ځان ته معلوم او و خپل مرکز ته یې اطلاع ورکړي. چنانچه تر دې کامیابۍ وروسته د مصطفی صغیر خپل اجراآت شروع کړه او ځیني معزز تورکان یې خپل همفکره کړل او دوی یې د انګرېزانو د جاسوسۍ په هغه اداره کې چي په استانبول کې د نیلسن په مشرتوب کې پټه دائره وه شامل کړل.

مصطفی صغیر د استانې په بک اوغلو کې یو ښکلی او نفیس عمارت په کرایه اخیستی و چي مخ یې د باسفورس و خوا ته و. پرته له

دې یو بل کوچنی سرای یې هم کرایه کړی و. دا سرای د سلطان احمد د جامع او آیاصوفیه د جامع تر منځ واقع و.

د بک اوغلو عمارت ده د خپل ملاقات، د دوستانو د راتلو او لیدلو او مذاکرو او صحبت له پاره مختص کړی و، او په کوچني سرای کي به دی په خپلو پټو او نامعلومو اجراآتو او افعالو بوخت و. په آستانه کي مصطفی صغیر د یوه متمول سړي په ډول ژوند کاوه، او خورا ډېر مصرف یې درلود ځکه د انګرېزي حکومت له خوا و ده ته د دې مصارفو له پاره کافي منظوري ورکوله کېده. د ده زیاتره مصرف په خیریه کارو کي د مرستي ورکولو له درکه ځخه و.

دده د فوق العاده مصارفو په سبب د ایلري د اخبار مدیر فرید جاوید هم د ده سره ورګډ سوی و. فرید جاوید د مصطفی صغیر په خبرو غولېدلی و او دی یې یو ننګیالی او د اسلام او مسلمانانو یو همدرد او غیر غوره کوونکی ګڼلی، د زړه له کومي یې معتقد سوی و او تر دې اندازې یې د خپل اقتدار واکي و مصطفی صغیر ته سپارلي وې چي هري خوا ته چي به یې غوښتل و ده ته یې حرکت ورکاوه او په ابتداء کي په غیر شعوري ډول سره د ده په ذریعه ځیني کارونه کول.

یو بل سړی چي عزت افندي نومېدی هم د مصطفی صغیر سره د ده په کارو کي مرسته کوله. دا سړی پخوا د بغداد د ښاروالی او د رئیس معاون و. مصطفی صغیر دی په استانه کي د کمالیونو د حرکاتو او جد و جهد پر تعقیب کولو مامور کړی و. دا و د مصطفی صغیر د ژوند لنډه سوانح او وظایف چي په استانبول کي د استېدلو تر ورځو پوري کړی و.

سره له دې چي د ده ژوند د اسرارو ډک او یوه معما وه لیکن بیا هم اکثرو وګړو دی یو مخلص مسلمان ګاڼه، د بلي خوا ټوله پر دې

متفق وه چي مصطفى صغير يو غښتلى ا وتوريالى سړى دئ او ګردو دا عقيده درلوده چي دى و خوږا مهمو او لويو كارو ته ګوتي ورنږدې كوي او په زښت صبر او استقامت هغه تر سره كوي او په دې خصوص كي هري معركې ته ورد مخه كېږي او په هغه كي بريالى ګرځي، د استانې ټولو مسلمانانو دا عقيده درلوده چي دى د نرې د هغو نوابغو څخه دئ چي د خپلي ارادي قوې په سبب يو خورا مشكل كار هيڅ نه ګڼي او پر هغه برى مومندي، ليكن سره د دې محضي ژوندون چي د اسرارو پټي خزيني يې درلودې خو بيا يې هم ځيني متردد افكار درلودل. كه څه هم ده په خپل نمايشي او مصنوعي ژوند سره نور خلك غولول او خپل ژوند يې په خطر كي اچولى و بيا يې هم خپل د ژوند سره ډېره علاقه درلوده او خوښاوه يې او دا ځكه چي دى هم يو انسان و. انسان كله كوم شى خوښوي او كله تاوان هم ګالي، ګاهي اذيت هم ويني. كله د دردناكي واقعې څخه متاثر كېږي هم. حتى د ده سترګي د تكليف او اذيت په اثر له اوښكو ډكي سوي څو ځاځكي هم توى كړي.

مصطفى صغير د يوې توركۍ پېغلي نجلۍ سره چي نوم يې (جنان) و مينه درلوده او دى به خپله دې مينه كي تل ډوب و او د آينده ژوند تصورات به يې تل په دماغ كي ګرځېدل او د خيال په عالم كي به يې ځان بريالى باله. ليكن په حقيقت كي د ده دا مينه بالكل يو طرفه وه، ځكه چي جنان د ده منحوس رنګ نه خوښاوه او دا يې په زړ پلا ښه تره ګڼله چي د مصطفى صغير په نسبت چي په آستانه كي خلكو يو بدای سړى او راجا باله د خپل قوم د يوه خوار سړي سره واده وكړي. كه څه هم د مصطفى صغير زړه هغه وخت هم چي دى په آستانه كي د جاسوسۍ او استخبارېې پر كار مامور و د يوې رېګني مځكي په څېر له هيڅ شي څخه نه متاثره كېدى او د دې صلاحيت يې نه درلود، ليكن

د محبت او میني اوبو د ده دا رېګنه او ښه مځکه یو چمن ګرځولی و، او لکه چي د سیند او بحر پر غاړه خودرویه چمبېلی راشین سوی او په هوسایي سره هري خوا ته خپلي رېښي ځغلوي او لوی بوټی ګرځي. دغه ډول د جنان د میني بوټی د ده د زړه په ښاره او رېګنه مځکه کي رېښي نیولي، د الفت تنې وده وکړه.

که څه هم جنان د مصطفی صغیر څخه نفرت درلود او غوښتل یې له ده څخه تل لیري وي. لیکن کله کله به د مسکنت او خواری په سبب مجبوره سوه چي د دې تور رنګ سړي مصطفی صغیر سره په ورین تندي ملاقات وکړي.

په حقیقت کي جنان د یوې لویي کورنی نجلی وه، لیکن او س د دې په کورنی کي هیڅ نارینه هم ژوندی نه و پاته سوی. ځکه ټول نارینه یې په لومړي لوی جنګ کي و شهادت ته رسېدلي وه.

مصطفی صغیر تر حد ډېر د جنان احترام او مراعات کاوه، د دې د مصارفو له پاره به یې خورا ډېر مبلغ ورکاوه او د دې څخه به یې نور هیڅ غوښتنه نه کوله. بلکه دې چي د ده سره په بې تکلفی ملاقات وکړي او د خپل برېښنا په څېر مسلو سره د ده په دام کښېوتلی زړه ته چي لکه بسمل تپېږي تسکین ورکړي.

جنان د باسفورس پر غاړه په یوې ښکلي ماڼی کي سکونت درلود، چي مخ یې ټول ه زینتي تاکویټ و، د ماڼی کتاري هم په زینتي بوټو پوښلي وې، د مصطفی صغیر کور هم د جنان و ماڼی ته نږدې واقع دئ، حتّی اکثراً مصطفی صغیر د خپلي کړکی څخه د جنان د ماڼی لوړي کړکی په خورا هوسایي سرهویني او کله کله د ماڼی په یوه کنج کي جنان ویني چي د خپلي باغچې د ګلابو بوټو ته هغه وخت چي شبنم خپلي روښي مرغلري د ګلابو پر پاڼو د دې د راتلو په استقبال

پاشلي وي او به ورکوي.

مصطفی صغیر د هغه تقرب حاصلولو له پاره چي د ده یوازینی آرزو چي د جنان د واده څخه مراد ده تر سره سي خورا ډېر کوښښ کوي، لیکن تر اوسه پوري په خپل مقصد کي ناکام دئ او هر کله چي مصطفی صغیر و دې ته د خپلي میني او محبت اظهار وکړي نو دا تل په ښکاره په جواب کي ورته ووایي چي د دې ضعیف او کمزوره زړه تر اوسه په دې زیار کي دئ چي مصطفی صغیر وپېژني او تر اوسه هغه وخت نه دئ رارسېدلی چي دا د ده سره د واده کولو قول وکړي، د دې رډ جواب ورکولو سره سربېره مصطفی صغیر نا امید سوی نه و، ځکه چي ده دا یقین درلود چي یو ورځ به واده وکړي.

که څوک وغواړي چي د جنان د زړه کیفیت ورمعلوم او په دې پوه سي چي د دې مرموز سړي (مصطفی صغیر) په خصوص کي دا څه افکار لري نو د دې له دې حزم او احتیاط څخه به یو څه ورته وبرېښي. جنان ډېري خبري په زړه کي درلودې او د مصطفی صغیر و څو نکاتو ته خورا ډېره متوجه وه. یو له هغو کارو څخه چي جنان ځان ته معلوم کړی و د شپې په تیاره کي د جاسوسانو ملاقات و چي دوی به د مصطفی صغیر سره کاوه. دې وضعیت جنان ډېره مشکوکه کړې وه او پر مصطفی صغیر یې هیڅ ډول اطمینان نه راتی. دغه سبب و چي جنان تل خپل ځان له ده څخه ژغوره او هر کله چي به دا له ښار څخه و خپل کور ته راغبرګېده نو به ضرور و هغه سړک ته راووته چي بحر یې پر غاړه واقع و او چي د دې سترګي به د مصطفی صغیر په کراهي عمارت او د استوګي پر ځای ولګېدې نو بې اختیاره به یې د ځان سره وویل :-

"ممکن دئ دا سړی (مصطفی صغیر) په یوه وخت کي هم جلاد

وي او هم محسن. د ده د ژوند طرز او سري اجراآتو زه د ده په نسبت مشکوکه کړې یمه او زه دا سړی جاسوس گڼم".

هر کله چي به جنان هوا خوری ته ولاړه او وروسته به و خپل ځای ته راغله نو د مصطفی صغیر پر اسراره ژوند به دا خورا متاثره کرځولې وه او افکار به یې تل د دې معما د حل له پاره و یوې خوا او بلې خوا ته متلاشي گرځېدل، د ډېرې پرېشانۍ په سبب به آخر د گلابو د بوټو و چمن ته چي د دې د عمارت د باغ یوه ښکلې برخه وه راغله، آیا تاسي داسي مځکه لیدلې ده چي د قسم قسم گلانو د بوټو مرکز دئ؟ آیا داسي مقام مو لیدلی دئ چي د هغه قیمتي آثار د انسان فکر د شعر د جمال و خوا ته راکښېباسي؟ آیا تاسي داسي ښار لیدلی دئ چي د اروپا او شرق د صنایعو د اختلاط مرکز گرځېدلی وي. دا ښار او مځکه د جنان ښکلی وطن او هیواد او مسکن د استانبول ښار دئ. دا هغه ځای دئ چي د مسلمانانو د یوه باعظمت سلطنت مرکز دئ او له دغه ځایه څخه اسلام په اروپا خصوصاً په شرقي اروپا کي پر مخ تللی خپور سو، هو د دې ځای د خلیج او بهتر او سه د اسلام د فاتحینو کارنامې د خپلو څپو په ژبه و عالم ته لولي. د دې ښار ښکلي منظمي او باعظمته ماڼۍ او منظم عمارتونه د مارمورا د بحیرې پر غاړه و هر سړي ته د اسلام عظمت ور په یادوي.

په هغه شپه چي درمهار په خپله کښتۍ کي کښېنستلی د شپې په تیاره کي د قاضي کویي و خوا ته رهي سو. مصطفی صغیر تر یوه داسي اوږدې بیدارۍ چي ثمره یې د یوه بېگناه مسلمان وژل و په یوه ژور خوب بیده سو. دی پر یوه نرمه بستره پروت په ژور خوب بیده و او په خوب کي د ښکلي جنان چي خورا ساده طبیعته واقع سوېده د زړه وړونکي څېره ویني په خوب کي په خورا محترمانه الفاظو و جنان ته د

خپلې مينې اظهارات کوي او له هغې څخه په خورا عجز او زارۍ د واده کولو قول غواړي. په حقيقت کې د دې دا شېرين او له لطفه ډک خوب د واورې و هغه ټوکره او يا د شبنمو و هغو څاڅکو ته ورته دئ چې تر سهار پخوالي يې تشکيل او د لمر ځلېدونکو وړانګو يې په خپلو څو دقيقو ځلېدلو سره محوه او نابود کړي.

په پای کې مصطفی صغير د خپل پرله پسې خوب ليدلو څخه راويښ سو، ليکن يو مخصوص کيف او خوند يې اخيستی و. له چپرکټه ولاړ سو، لاس او مخ يې پرېولل او خپل لباس يې تبديل کړ او له هغه مخصوص او پټ ځای څخه د استانبول د بحيرې د غاړې و لوی واټ ته راووت. دی ورو ورو رهي و او عزم يې کړی و چې بک اوغلو ته ولاړ سي او له هغه ځای څخه د جنان و ليدو ته ورسي او هرومرو نن د جنان سره ملاقات وکړي.

هر کله چې مصطفی صغير و لوی واټ ته راووت نو په يوه ګاډي کې سپور سو او د بک اوغلو و خوا ته په دې نيت رهي سو چې هلته و نيشان طاش ته چې د جنان کور په دغه محله کې و ورسي، او له هغې سره ملاقات وکړي. دی ټوله لار د خپلې محبوبې په افکارو کې ډوب و، د دې محبوبه جنان يوه داسې متينه او وطندوسته پېغله وه چې د دې د تعارف له وخت څخه يې تر نن ورځې پورې يوه دقيقه هم و دې ته د مينې او محبت په نظر نه وه کتلې او نه يې د مينې اظهار ورته کړی و. مصطفی صغير د جنان د مينې په افکارو کې داسې ډوب و چې خپل هغه جهنمي افعال او افکار يې چې دی په هغه سره مامور و هېر کړي وه.

لمر دغه دئ چې راختلی دئ. آسمان شين او نرۍ هوا چلېږي او د بحيره مارمورا په اوبو کې کوچنۍ کوچنۍ څپې پيدا کوي، دا څپې

کله ورو او کله لږ څه تندي د بحیرې و غاړې ته ځان راورسوي، د ساحل له ډبرو سره خپل سرونه وهي چې له دې تصادم څخه لطیفي نغمې پورته کېږي.

مصطفی صغیر د جنان په فکر کې ډوب په ګاډي کې سپور دئ، ګاډی هم ورو ورو د بک او غلو څخه تېره سوې د (نیشان طاش) و هغې برخې ته ورسېدله چې د بحیرې پر غاړه واقع ده، دلته مصطفی صغیر له خپلو ژورو افکارو څخه راویښ سو او ګاډي وان ته یې امر ورکړ، هر کله چې و هغه عمارت ته ورسېږي نو ګاډی دي ودروي. ګاډی چې و هغه ځای ته ورسېدله نو ودرېدله، دا عمارت چې یوه د ګلابو ښکلې باغچه لري د جنان کور دئ. مصطفی صغیر له ګاډي څخه کښته سو او ګاډي وان ته یې پیسې ورکړې او رخصت یې کړ او پخپله ورو ورو د عمارت د لویې دروازې و خوا ته چې خلاصه سوې وه رهي سو. آهسته یې دروازه نیمکښه کړه او په باغ ته داخل سو. د ده زړه لکه پرې کړی سر غورځېدی او د خپل زړه دربهار یې پخپلو غوږو اورېدی. ورو ورو د باغ پر سړک د عمارت و خوا ته رهي و. هر قدر چې پر مخ تی نو کله به یې په بدن کې رښکه پیدا سوه او پښې به یې مړې سوې. لیکن بیا به ده کوښښ وکی چې خپل زړه ته ډاډ ورکړي او خپل بحراني وضعیت اصلاح او پر هغه باندي کنټرول حاصل کړي. یو څو دقیقې د سګرېټ څکولو په پلمه ودرېدی، او له جېبه څخه یې سګرېټ را وایستی ویې لګاوه، دلته یو څه اطمینان ورته حاصل سو.

په دې وخت کې جنان د خپلو ګلابو په باغچه کې ګرځېدله او مړاوي ګلاب یې په غیچي پرې کول او نوري بېدرکه ښاخلې یې ځنې وهلې، ځیني غوټۍ غوړېدلي وې او ګل ګرځېدلي وې، د خپلې ښکلا ننداره یې د قدرت د حسن و مینانو ته ښکاره کول، ځینو غوټیو لا د

پېغلو په ځېر خپل حسن او ښکلا د پاڼو په پلو کې نغاړلې وه او د سهار وږمې به د پر راځرخېدلو شنو پاڼو سرونه د جګې او زارۍ کوونکو مینانو په ځېر دې خوا او هغې خوا ته کاږه واږه کول. ښکلې جنان ساده لباس اغوستی و، او له یوه بوټي ځخه و بل بوټي ته ورو ورو ورځي.
جنان په دې شنه چمن کې د ګلانو تر منځ داسې ښکاري، لکه کومه شاپېرۍ چې د سهار له خوا د هوا خورۍ په نیت پر دې مځکه راکښته سوې او دا د ګلابو باغچه یې خونښه کړې وي. جنان هم د ګلابو د ګلانو په ننداره کې محوه ده او په خورا فرحت سره د هغو د ښکلا ځخه خوند اخلي.
مصطفی صغیر چې خپل سګرېټ ولګاوه، نو شا وخوا یې په باغ کې سترګې ورغړولې، ځکه دی پوهېدی چې په دې وخت کې جنان د خپل عادت سره سم په باغ کې ګردش کوي او د خپلو ګلانو د پالنې په ترڅ کې ننداره کوي، چنانچه د ده سترګې پر جنان باندې چې و ده ته یې شا وه ومونښتې خورا خوشحاله سو او بې اختیاره یې لکه زرکه چې د سپوږمۍ و لور ته ځغلي ورالا کړه، په عیني تګ کې یې کوښښ کاوه چې و جنان ته تر رسېدلو پورې یې د پښو کړپې دا وانه وري.
جنان د ګلانو په ننداره کې داسې محوه وه چې د مصطفی صغیر په راتګ هیڅ خبره نه سوه. هر کله چې مصطفی صغیر نژدې ور ورسېدی نو بې اختیاره یې تر خولې ووتل : ښکلې جنان !
جنان چې د مصطفی صغیر ږغ واورېدی، نو وارخطا سوه او و ده ته یې مخ راواړاوه په یوه داسې کتنه چې د نفرت او بېرې ترجمانې یې کوله و مصطفی ته وکتل. په حیرت کې وه چې په جواب کې څه ورته وواېي. دا په دغه تردد کې وه چې مصطفی صغیر بیا وویل :
"ښکلې جنانې ! ته د هند تر ګلانو ښکلې، تازه او پاکه یې. ستا

میني زما په پلو او رګو کي ځای نیولی دئ. زما قوت، ادراک، تدبیر او فکر ټول ه ستا تر میني قربان سوي دي، تر دې حده چي ستا په سبب ستا د ښکلي وطن مینه هم زما زړه ته داخله سوې او تر اثر لاندي راغلی یم. دغه سبب دئ چي دا دئ سهار وختي ستا د زیارت کولو له پاره لکه مجنون بې ستا له اجازې راغلم او د خپل عجز او ستا د میني په افکارو ډک سر ستا په پښو کي ږدم. هیله لرم چي زما نا آرام زړه ته تسکین ورکړې".

جنان چي د ده داسي بې معنی او له تملقه ډک او پوچ کلمات په وارو وارو اورېدلي وه، بلکي باید وویل سي چي دا په عادي سوې وه نو یې هیڅ تاثیر پر ونه کی. لیکن په عین حال کې د خپل متانت څخه کار واخیست او په زړه کې وویل، نه ښایي چي د مصطفی صغیر سره چي دومره احسانونه یې کړي دي او خورا ډېري مالي مرستي او امدادونه یې کړي دي داسي کج خلقي وکړه سي، چي هغه احسان فراموشي وګڼله سي. دغه افکار و دې ته ورپېښ سوه او تر څو دقیقو پوري یې فکر کاوه. مصطفی صغیر د دې و مخ ته ولاړ او د دې د جواب انتظار یې ایست.

جنان د څو دقیقو تر مکث وروسته چي په ظاهره یې د یوه ګل په سمولو ځان بوخت کړی و، په متانت سره و ده ته وکتل او خپل رېږدېدلی لاس یې د پوښتني په طریقه و مصطفی صغیر ته وغځاوه.

مصطفی صغیر چي د جنان لاس و خپل لوري ته غځېدلی ولید، نو تر تصور خورا لوړ خوشحاله سو، او ځان یې د نړۍ پر سر یو وتلی، نېکمرغه روح وګاڼه او د خوب واقعات یې په فکر کي صحیح ښکاره سوه، او دا یې ټینګ یقین سو، چي د ده د ښکلي معشوقې زړه نرم سوی دئ او رآفت یې راغلی دئ. ممکن دئ چي تر ډېرو ظلمو او

ستمو وروسته اوس يې زړه نرم سوی دئ او اوس به يې هيلي او اميدونه تر سره سي.

مصطفی صغير د جنان لاس په خپل لاس کي نيولی و، او داسي يې سترګي په دې کي وې لکه چي يو ورک شی يې تر خورا تکليف وروسته موندلی وي او تر يو دقيقه مکث وروسته يې وويل:

"محبوبي جناني! زه پخپل وطن قسم خورم، چي ستا د حسن او ښکلا د سحر په مقابل کي د هند جادو هيڅ حقيقت نه لري. که د هند ټوله جادوګران سره غونډ سي او کوښښ وکړي چي ستا د ښکلا جادو له منځه يوسي نو هم قسم خورم چي هيڅ کله به کامياب نه سي. بېله شکه ته د کرامت د ښکاره کولو قدرت لرې، او يو خارق العاده قوه په تا کي سته.

زما ښکلي جناني! ستا دي په خدای قسم وي، پر ما عاجز باندي رحم وکړه، او ما ته د خپل ندمت رابخښلي مېړه توب په حلقه کي ي داخل کړه".

جنان په سړه سينه د مصطفی صغير خبري واورېدلې او په دغه ترخ کي خپل اضطراب پټ کړ او په متنت سره يې وويل:

"زه متاسفه يمه چي تر هغه وخته پوري ستا د دې خواهش جواب نه سم درکولای، تر څو چي زه ستا له شخصيت او کيفيت له حقيقته څخه خبره نه سم".

بيا يې وخندل او وې ويل:

"زما محسنه! پر ما خورا سخته ربړې، هر کله چي زه ستا رنګه محسن ته د مجبوريت څخه داسي جواب ورکوم".

مصطفی صغير د جنان دا جواب واورېدی، لکه د ډېري بت بې حرکته و درېدی، او داسي ښکارېده لکه چي جنان پر ده باندي کوم

سحر وکړي، او دی د مایوسۍ یو عکس وګرځېدی. جنان هم د ده له وضعیت څخه متأثره سوه، او مصطفی صغیر یې تر لاس نیولی د عمارت و خوا ته رهي سوه. په دې وخت کي مصطفی صغیر د جنان په لاس کي لکه یو مایوس بندي چي هیڅ خپل واک ونه لري، دی هم داسي ښېله کومي کلمې د ویلو لکه سیوری ورسره رهي و. جنان هم د خپلو مخمورو سترګو تر ښېخو ورته کتل، په دې وخت کي د دې سترګي هم له اوښکو ډکي وې.

دا لومړی پلا وه چي مصطفی صغیر د جنان سترګي له اوښکي ډکي ولیدلې. انسان د ګلاب و هغه بوټي ته ورته دئ، چي خپل مړاوي ګلان د ځان په څنډو ولو سره نوي کړي، صرف فرق دا دئ چي انسان د مړاوو پاڼو پر ځای د مرغلرو په څېر پاکي، شفافي اوښکي ورو ورو یو په بل پسې توی کړي. دا اوښکي د ګلانو د مړاو پاڼو په څېر بې اهمیته او بې تاثیره نه وي، بلکي هر څاڅکی یو عالم تاثیر لري.

حتی د ډبري زړه درلوونکی انسان هم لکه موم پوست او نرم کړي. عیناً دغو اوښکو چي د ښکلي جنان په خمارو سترګو کي ښکاره سوې پر مصطفی صغیر تاثیر وکړ او په یوه پلا یې د جنان د ټولو مجبوریتو او مشکلاتو کیفیت ورته څرګند کړ.

جنان دغسي دی تر لاس نیولی و عمارت ته داخله سوه، او تر دوو دهلېزو تېره سوه، یوې خوني ته چي د ملاقات کوټه وه داخله سوه، و مصطفی صغیر ته یې چوکۍ وردمخه کړه او له ده څخه یې د کښېنستلو خواهش وکړ. جنان هم په خپله ده ته مخامخ پر یوه چوکۍ کښېنستل. دواړه خاموش او پټه خوله ناست په خپلو افکارو کي ډوب سول. یوه ژوره خاموشي خپره وه. کله کله به مصطفی صغیر و جنان ته او کله کله به جنان و مصطفی صغیر ته د یاس او ناامیدۍ په سترګو

کتل. تر لسو دقیقو پوري دا کیفیت طاري و، په پای کي مصطفی صغیر سر راپورته کړ او د جنان له اوښکو ډکو سترګو ته يې وکتل او وې ويل:

"ښکلي محبوبي! څه وکړم، په ما کي دونه قدرت نسته چي زه د خپل زړه د مینې حقیقت و تا ته ځرګند کړم، او نه هغه کلمات لرم چي په هغو سره د خپلو احساساتو ترجماني و تاسي ته وکړای سم. لنډه يې دا چي تا زما په زړه، رګو او پلو کي ځای نیولی او زه دي بشپړ د ځان تابع کړی یم. زه اوس د ځان واک نه لرم. زما ژوند او مرګ په تا پوري اړه لري. ستا محبوبه او ښکلې څېره هر وخت یعني په خوب او ويښتوب کي زما تر سترګو ګرځي. زړه مي تل نا آرام دئ، او ..."

مصطفی صغیر غوښتل چي او د خپل بشپړ حالت ورته تشریح کړي او د دې هغه مینه چي د ده زړه يې تسخیر کړی دئ او د ژوند ټوله اوقات يې و ځان ته متوجه کړی دئ، په ښه ډول سره و دې ته بیان کړي، لیکن جنان و ده ته دونه موقع ورنه کړه او په خوله کي ور ولوېدله، او ورته يې وویل:

"زه له ډېره وخته څخه ستا په کیسه خبره یم، لیکن تاسف کوم چي دا امر زما له امکانه وتلی دئ. چي زه تا ستا له ورک سوي شي سره يو ځای کړم او یا تا و هغه مقصد ته ورسوم. دا ځکه چي زما زړه و تا ته نه دئ مایل او نه و هغه ته ستا مینه او محبت ور داخلېدلای سي. زه البته ستا عزت کوم او زما زړه ستا د احترام کولو له پاره تل مایل دئ".

مصطفی صغیر: "ښکلي جناني!".

جنان: "ته له جناني څخه څه توقع لرې او څه ځني غواړې؟"

مصطفی صغیر: "زه ستا له لوړي درګاه څخه هغه شی غواړم چي ته يې لرې او هم يې په معاوضه کي ما ته راکولای سې، او هغه

مینه ده".

جنان: "زما محسنه! تر هغه وخته پورې دا امر ممکن نه دئ، تر څو چې زه ستا له اغراضو، مقاصدو او آمالو خبره نه سمه او تر هغه وخته چې زه په دې بشپړه خبر نه شمه ستا ژوندون به و ما ته یوه معما ښکارېږي، ته ما ته ځان ښکاره کړه او وایه ته څوک یې؟ زه مجبوره یمه چې تا ته حقیقت ووایمه، چې ستا د ژوندون اصولو او طرز زه مشکوکه کړې یمه او تل و تا ته په مشکوکه کتنه ګورم او په خپله ووایه چې زه څنګه خپل لاس و یوه مجهول لاس ته وسپارم. تر څو چې ما ته دا کیفیت په ښه صورت سره ښکاره نه سي زه په دې خصوص کې هیڅ قطعي اقدام نه سم کولای، او نه باید ته باید زما څخه په دې خصوص کې کومه توقع ولرې. ځکه معامله ټوله مجهوله او په تاریکه کې ده".

مصطفی صغیر: "زه څوک یم؟ ښکلې جنانې! په رشتیا ما نه پېژنې؟ زما نوم مصطفی صغیر دئ، او د هندوستان اوسېدونکی یم، زه د خلافت د مجلس مخصوص غړی یم، او ستا د ښکلي وطن او قوم سره د اسلامیت له رویه مینه او محبت لرم او له هند څخه د دې ځای د مظلوم او تباه سوي ولس سره د مرستې کولو له پاره راغلی یم او بل هیڅ مقصد او غایه نه لرم، چې بېله دې چې د اسلامیت د مینې په سبب خپلې وروستنۍ ښاځکی وینې د دې پاکې خاورې د ساتنې او د خپل تللي عظمت د لاس ته راوړلو له پاره توی کړم، زه اوس د غیرتمن تورک قوم مېلمه یم. د هغه قوم چې په مړانه او غښتلوالي کې په نورو قومو کې خپل ساری نه لري".

جنان چې د تورک نوم واورېدی، نو یو مخصوص کیفیت ورپېښ سو، او له ډېر تاثیر څخه یې له سترګو اوښکې راتوی سوې، لیکن

فوري يې پر خپلو احساساتو اقتدار ومونده، زړه يې راغونډ کړ او اوښکي يې پاکي کړې. تر دوو دقيقو پوري پټه خوله پاته سوه او فکر يې کاوه، وروسته يې سر راپورته کړ او و مصطفی صغير ته يې وويل :

"زما محسنه ! زه تاسف کوم زما زړه ستا د دې اقوالو و منلو ته هيڅ آماده نه دئ، ښايي ته حقيقت راته وواېې چي هغه و زړه ته ولوېږې".

مصطفی صغير : "ښکلي جناني ! ته زما په خبرو اعتماد وکړه او رشتيا يې وبوله، ځکه ما تر نن ورځي پوري هيڅ دروا غ نه دي ويلي، زه د هند له اشرافو او اعيانو څخه يم، زما محترم پلار د اسلامي مجلس لوی مبلغ و. او خپل خدمت يې وکړ، د ۱۹۱۹ کال په بغاوت کي چي په هندوستان کي وسو زما پلار ووژل سو، دا ښورښ او انقلاب صرف د خلافت د استحکام له پاره وسو او د هنديانو مقصد د خلافت بيرته قايمول وه نه بل شی. ښکلي جناني ! آيا سره له دې معقول اثباته بيا هم ته پر ما مشکوکه يې؟ او ما په خپل مېړه توب نه قبلوې؟ آيا د هغو احسانو چي ما ستا سره کړي دي معاوضه دغه ده؟ "

جنان چي د مصطفی صغير بيانات واورېدل، نو پر دې يې لو اغېزه وکړه او و دې ته مايله سوه چي دا بيانات صحيح وګڼي، ليکن سم دستي يې و دې ته د مصطفی صغير پُر اسراره ژوند او مشکوک او مشتبه افعال ور په ياد سول. فوراً يې يو فوق العاده اضطراب په ځان کي محسوس کړ او تر لږ تفکر وروسته يې دا ټينګ يقين سو چي د مصطفی صغير ټولي وينا وي غلطي او د اعتبار او اعتماد وړ نه دي او دی يو د سي له اسرارو او معماوو ډک سړی دئ، لکه چي د

هندوستان پراخ ځنګلونه له نامعلومو بوټو او ګیاهو څخه ډک دي. په حیرت کي وه چي څه وکړي، چي یو په یوه دا خیال ورپیښ سو او انقباض او اضطراب یې ورک سو او څېره یې وغوړېدله او د ځان سره یې وویل :

"څه تاوان لري چي د ده سره د ده د حال او اجراآتو د معلومولو له پاره په ظاهره د میني اظهار وکړم، او څو په دې صورت په صحیح ډول د ده حقیقي بڼه ووینم، که چیري په حقیقت کي دی په خپلو خبرو کي صادق و، خو خیر او که خدای نخواسته د ده ټوله وینا وي غلطي وي او د اسلام د ریښنو کښلو ته یې ملا تړلې وه نو به مي د ده د کیفیت په کشف کولو سره یو خدمت کړی وي، او و خپل حکومت او ملت ته به یو غلیم او جاسوس ور معرفي او د ده له شر او تاوان څخه به دوی وژغورم او دا یو بهترین خدمت دئ، که ما وکړای سوای. باید په دې لار کي خورا کوښښ وکړم چي له دې څخه یوه نه یوه نتیجه لاس ته راوړمه".

دې افکارو د دې په دماغ کي ټینګ ځای ونیوی او د هغه په عملي کولو یې ځان چمتو کړ. ځکه نو فوراً یې و مصطفی صغیر ته داسي ورڅرګنده کړه چي دا د ده د وینا په ښاوخوا کي فکر کوي او د هغه په منلو او یا نه منلو کي متردده ده. دې په پای کي یې سر وښوراوه او تندی یې وغوړاوه، او وروسته یې وخندل و مصطفی صغیر ته یې وویل :

"آیا ته قسم خوړلای سې چي ته په خپلو دې ویناوو کي صادق یې، چي ستا په قسم خوړلو سره و ما ته اطمینان او د زړه ډاډ حاصل سي او هغه تردد چي اوس و ما ته پیښ دئ له منځه ورک سي؟"

مصطفی صغیر : "هو ! زه په لوی او واحد خدای او صادق

رسول اکرم ﷺ او د قیامت په ورځ قسم خورم او تا ته یقین درکوم چې زه پخپله وینا او قول کې بالکل صادق یم، او هیڅ قسم مبالغه او دروغ پکښې نسته".

مصطفی صغیر اګر چې سر تر پایه دروغ وویل او په دروغو یې خدای جل شانه او حضرت رسول اکرم ﷺ پر ځان شاهدان وګرځول او دا صرف د دې له پاره چې وکړای سي جنان وغولوي او خپل مقصد تر سره کړي، لیکن سره د هغه هم په حقیقت کې دی پخپل ناپاک مرام کې ناکام پاته سو، او جنان ته یې اساساً فریب ورنکړای سوای او جنان په زړه کې هیڅ تسلیمه نه سوه، بلکې برعکس د ده خیانت ښه ترا د دې و پاک زړه ته وبرېښېدی. لیکن سربېره پر هغه جنان خوداري کړې مصنوعي خندا یې وکړه او ویې ویل:

"زما رفیقه! اوس مې د زړه داډ حاصل سو، لیکن اوس زه تعجیل په دې کار کې نه خوښوم، او مناسب یې نه ګڼم چې زما او ستا واده داسي ژر په عمل راسي. بهتره دا ده تر څو میاشتو پوري دا کار وځنډول سي، ځکه چې څو میاشتي دمخه زما والدین وفات سوي دي او تر څو چې پر دې واقعې څو میاشتي نوري تېري نه سي هیڅ مناسب نه دئ چې زما او ستا نکاح وسي".

مصطفی صغیر چې د جنان امید ډېروونکې بلکې تر یوه حده پوري فیصله واورېدله او د جنان خبري یې صحیح ګڼلې، و زړه ته یې ولوېدل نو خورا خوشحاله سو او ورته ویې ویل:

"ښکلې جناني! حق تعالی دې تا تر ټوله عمر کامیابه او خوشحاله ولري او تل د ښتن تعالی په امان کې اوسې. تا په خپلو دې اظهاراتو سره زما مړاوی زړه وغوړاوه او زه دې له یوه روحي فشار او غم څخه چې زما پر بدن او د ژوند پر کارو یې فوق العاده تاثیر کړی و

خلاص کړم. دا لومړی پلا ده، چي پس له هغه وخت څخه چي زه ستا په مینه کي اخته او زړه مي ستا منګولو وړی دئ او لکه بسمل تپیږي، او س یې ستا په شیرینو کلماتو او زړي تسکین وموند".

دا یې وویل او د چوکۍ څخه ولاړ سو. د جنان و کوچ ته چي سه نفري و ورغی او د جنان و اړخ ته کښېنوست. له ډېره اشتیاق او خوشحالۍ څخه یې او ښکي په سترګو کي ورغښتلې وروی یې لاس وروغځاوه او د جنان ښکلي نازک لاسونه یې په خپلو لاسو کي ونیول. جنان له حیا او شرم څخه خولنه سوه، بدن یې وریږدېدی. د مصطفی صغیر کیڼ جېب د جنان و خوا ته و. ..ن چي سترګي کښته کړې نو یې د ده جېب ولید، په جېب کي یوه کتابچه او څو نوري پاڼي پرتې وې. کتابچه یې روزنامچه په نظر ورغله، دلته جنان فوراً خپل بایللي حواس راغونډ کړل او په خندا یې خپل کیڼ لاس د ده له لاس څخه وکیښ او مصطفی صغیر یې په خبرو اخته کړ.

مصطفی صغیر له خوشحالۍ څخه ځان تر شا په کوچ کي واچاوه او خپل راسته لاس یې تر کوچ تر شا وغځاوه. د کوچ و شا ته مېز پروت و، او پر هغه باندي دوه درې ګیلاسونه سره د نورو شیانو پراته وه. د مصطفی صغیر لاس بې اختیاره د هغو څخه وموښت او ګیلاسونه سره چپه سول او یو ګیلاس د خوني پر فرش ولوېدی مات سو. مصطفی صغیر د ګیلاس له شرنګي څخه وارخطا سو.

جنان چي په دې ټولو اوقاتو کي د سترګو تر بېخو د ده و جېب ته متوجه وه، د ده د ځان غځولو سره موقع و لاس ته ورغلې وروی یې په کیڼ لاس کتابچه او نور کاغذونه د ده له جېب څخه وایستل، په دغه ترځ کي مصطفی صغیر د ګیلاس د شرنګي په سبب ولاړ سو، او غوښتل یې چي لومړی کیفیت ځان ته معلوم کړي نو په دې سبب یې د

جنان لاس ایله کړ. جنان په ډېر سرعت او مهارت سره کاغذونه تر کوچ لاندي وغورځول او پر چوکۍ راوڅرخېدل و کړکۍ ته یې چې د باغ و خوا ته په چټکي سره ځان ورساوه او خپل نیم بدن یې تر کړکۍ ځړولی په اراده د دې چې د شرنګي کیفیت معلوموي کتابچه یې په سرعت سره د ګلاب په بوټي کي وغورځوله او بیا یې شا وخوا کتل شروع کړه. مصطفی صغیر چې پر کوچ راڅرخېدلی و او د مېز د چپه سوو شیانو په ټولولو بوخت و، سر یې راپه رته کړ او جنان یې په کړکۍ کي ولیدل، ورته ویې ویل:

"ښکلي جناني! هلته څه ته ګورې؟ نقص دلته پېښ سوی دئ، دا شرنګ د ګیلاسو د چپه کېدلو او د یوه د ماتېدلو په سبب پېښ سو، ما لاس وغځاوه او پر دې مېز چې و شاته مي پروت و، وموښت ګیلاسونه چپه سول".

جنان تر خپل کار کولو چې دې د سترګو په رپ کي اجرا کړ، په سرعت سره له کړکۍ څخه و ده ته راغله او وې ویل:

"دا شرنګ دلته و سو. زما په خیال داسي راغله چې چا دباندي کوم د چیني شی له ځمکي وویشت. حیرانه سوم چې څوک دي، ځکه نو و کړکۍ ته ورغلم. سر مي ور وایست شا وخوا مي وکتل لیکن هیڅ شی مي په نظر نه راغی. خیر دئ پرېږده یې زه به یې ټول کړم".

دا یې وویل او جنان مېز سم کړ نور شیان او پاته دوه ګیلاسونه یې بیرته پر واوډل او د مات ګیلاس ښیښې یې ټولي کړې تر هغه کړکۍ دباندي یې په باغچه کي وغورځولې او بیا په خورا اطمینان راغله د کوچ پر ځای پر چوکۍ باندي کښېنستله. مصطفی صغیر هم بیرته راغی په کوچ کي کښېنوست.

جنان د خپل تدبیر، پوهي او دوراندېشۍ په سبب د خپل مظلوم

هیواد خدمت په خورا مهارت سره وکړ. جنان د خپل هیواد سره فوق العاده مینه او محبت درلود، ځکه نو د خدمت له پاره یې ټینګه ملا تړلې وه. تر کښېنستلو وروسته جنان په دې فکر کې سوه چې څه ډول مصطفی صغیر و دې ته اړ باسي چې ژر تر ژره ولاړ سي او د کتابچې او کاغذو په کیفیت افشا نه سي. دفعتاً یو فکر ورپېښ سو، وې خندل او په یوه شېرین او خوږ ږغ یې و مصطفی صغیر ته وویل:

"زما محسنه! اوس ښه وخت دئ، بهتره به دا وي چې اوس ته یک اوغلو ته ولاړ سې، او هلته هغه ټوله ضروري او لازمه سامان چې ستا د شان سره وړ وي د خپل واده له پاره رانیسې. ځکه په هغه وخت کې د نورو کارو په سبب انسان خپل ضروریات پوره نه سي تهیه کولای. که چیري داسي وکړې چې تر هغه وخته پوري لږ لږ سامان رانیسې نو به مشکلات نه سي درپېښ او د وخت تر رسېدلو پوري به دي د خپل واده سرښته بشپړه کړې وي او سرګرداني به درپېښه نه سي".

مصطفی صغیر چې د جنان له خولې دا خبري واورېدلې نو لکه چې د خوبه راویښ سي، په دقت سره یې و جنان ته وکتل او له بڼې څخه یې داسي څرګندېده چې د ده و زړه ته دا خبري نه لوېږي، او ممکن دئ چې ده دا خبري د فکر په عالم کې اورېدلي وي. ځکه نو تر یوه دقیقه مکث وروسته یې په حیرت سره و جنان ته وویل:

"زما ښکلي محبوبي! ته ما ته اجازه راکوې چې زه ستا له پاره د ضرورت سامان په رانیولو شروع وکړم؟ آیا ممکن دئ زه چې ستا د شهلا سترګو مریض یم ستا د امر په تعمیل کې تردد وکړم؟ صرف ستا له مبارکي خولې څخه دومره خواهش کوم چې زما په مړه بدن کې د امید روح پوه کړه، چې زه د یأس او مرګ له حملې څخه په امان سم، زه

اوس فوري ستا د امر تعميل کوم. بهتره ده چي ته هم زما سره د يک اوغلو تر دوکانو پوري ولاړه سې، او د خپل خواهش او ذوق له رويه لباس او نور شيان وټاکې، چي زه هغه ستا له پاره رانيسم".

جنان: "ما دمخه درته وويل چي څه موده وروسته به واده وکړو، ليکن اوس نسبت و هغو معاذيرو ته چي درته و مي ويل هيڅ ممکن نه دئ. دا چي زه بايد ستا سره د يک اوغلو و دوکانو ته ولاړه سمه، ښه کار نه دئ. خصوصاً په داسي وخت کي چي ټوله وګړي ما ته د شک او شبهې په ستر ګو ګوري. زه اوس نه سم کولای ستا سره يو ځای و داسي ځايو ته ولاړه سمه. زه يېغله يمه او د يوه زلمي سره نه سم تلای، که چيري زه ستا سره و يک اوغلو ته ولاړه سمه لومړی و ما ته تاوان رسېږي او خلک به په ما کي ګډ سي، بل دا چي ټينګ يقين لرم که زه ستا سره يمه او خلک مي ووينې نو ستا په نسبت هم چي اوس وګړی خورا ښه عقيده لري بد ظن او مشتبه سي او ستا و وقار ته به صدمه ورسېږي، چي دا پخپله د تدبر او عقل پر خلاف اقدام دئ. ممکن دئ ته به لا په هر صورت چي وي د خلکو اشتباهات رفع کړې، ليکن زه چي يوه بېکسه يتيمه نجلۍ يمه او بېله د خپلو کوچنيو ورونو بل محافظ او نګران نه لرم داسي تاوان به راپېښ سي چي په خپل ټوله ژوند کي به د هغه جبيره ونه کړای سم. بهتره دا ده چي ته يوازي ولاړ سې او ما پرېږدې".

مصطفی صغير: "زما محبوبي! ستا افکار بالکل درست او صحيح دي، زه يوازي ځم او هر څه چي ستا له پاره لازم وګڼم رابه يې نيسم، اعلی قسم کالي به در واخلم".

جنان: "هو! دې ته هم ملتفت اوسه، دا کالي چي ته رانيسې دلته يې مه راوړه او په خپل ځای کې پټ او محفوظ وساته".

مصطفی صغیر وخندل او وې ویل : "خورا محتاطه یې، او زه ځان نېکمرغه ګڼم چې ښتن تعالی و ما ته ستا په څېر فهمیده، ذکي او پوه نجلۍ را نصیب کړه، زه اوس ځم او امر پر ځای کوم. مطمئنه اوسه دلته یې نه راوړم".

دا یې وویل او ولاړ سو. جنان ته یې لاس ورکړ او خدای په اماني یې وکړه او له عمارت څخه ووت. د جنان تر کوټې چې و سړک ته راووت، نو په ګاډي کي سپور سو. او د مصطفی صغیر تر تلو وروسته جنان د عمارت و باغ ته راووتله او د ګلابو و باغچې ته راغله په هغه بوټي کې پلټنه شروع کړه چې دې کتابچه پکښې راغور ځولې وه. تر لږ دقت وروسته یې کتابچه وموندله او هغه یې تر بغل لاندې پټه کړه، په خندا او خوشحالي سره بیرته و خپلي خوني ته راغله، هغه کاغذونه یې هم را واخیستل چې دې په سرعت سره تر کوچ لاندې اچولي وه، او د خپل خوب و خوني ته راغله، کتابچه او کاغذونه یې د الماری په یوه پټ ځای کي کښېښوول، الماری یې کلپ کړه او کیلي یې تر خپل بالښت لاندي کښېښووله. تر هغه وروسته و بلي کوټې ته ورننوتله خپل دوه کوچني ورونه یې ولیدل چې په بازیو بوخت دي.

هغوی ته یې د میني او محبت په سترګه وکتل. د دوی دواړو سترګي چې پر خپلي مهرباني او خواخوږي خور باندي و موښتې نو بې اختیاره دواړو بازی پرېښوولې او راوې ځغستل په دې پوري ټینګ و موښتل. دې هم دواړه په غېږ کي ونیول او پر مخو یې مچ کړل او بیا یې په دواړو کالي واغوستل د ځان سره یې رهي کړل.

جنان په داسي حال کي چې خپل دواړه کوچني ورونه یې د ځان سره رهي کړي وه، له خپل عمارت څخه راووتله او د بازار و خوا ته وخوځېدله، تر غرمې پوري هلته په خپلو کارو او د کور د ضروري

شیانو په رانیولو مصروفه وه. غرمه بیرته خپل کور ته راغله او د کور په کارو بوخته وه. تر ماښامه پورې د خپل ځای ځخه ونه وتله.

ماښام سو، لمر ولوېدی او تیاره پر نړۍ باندې وغوړېدله. شاوخوا ټوله شان له نظره ورک سول، دا شپه د جنان له پاره یوه مبارکه شپه وه. ځکه د وطن د نجات له پاره د دې له خوا دا لومړی ګام و او دغه اقدام تورکیه د اروپایي ممالکو د سیسو څخه باخبره او په پای کې د نجات و ساحل ته راورسوله. جنان هم خورا خوشحاله وه او انتظار یې ایست چې خپل کوچني ورونه بیده کړي. دوی ته یې ډوډۍ ورکړه او بیا یې هر یو پر خپل ځای بیده کړه. تر دې اجراآتو وروسته جنان الماری خلاصه کړه او د مصطفی صغیر کتابچه او کاغذونه یې راواخیستل و ځراغ ته نژدې پر کوچ کښېنستله.

په دې وخت کې هري خوا ته چپه چپایي وه، صرف د شپې د خوږې وږمې د چلېدلو په سبب د جنان په باغ کې د ولاړو درختو د پاڼو د رپېدلو ږغ اورېدل کېږي. د بلې خوا د کړکۍ څخه د سپوږمۍ لطیفي وړانګې رالوېدلې وړو ږرو د جنان د بدن سره د تماس کولو په غرض د دې و لور ته په حرکت کې دي. تر کړکۍ دباندې د سړک و هغې بلې غاړې ته ورځرمه د باسفورس د بحیرې مړاوې اوبه ورو ورو څپې وهي. په دې وخت کې د دې دواړې ښکلې غاړې له ننداره چیانو څخه خالي دي او نه پر سړکانو باندې وګړي لیدل کېږي.

په داسې حال کې جنان پر کوچ ناسته ده، د مصطفی صغیر کتابچه او کاغذونه یې و خپل مخ ته پر مېز کښېښوول او د هغو په لوستلو یې پیل وکړ. په دې کاغذو کې دوه مکتوبونه وه چې د لندن څخه په انګرېزي ژبه د ده په نامه راغلي وه. تر ټولو دمخه دې دغه مکتوبونه واخیستل او نور یې پر مېز کښېښوول. لومړی پاکټ یې

خلاص کړ او وې لوست، داسي پکښې ليکل سوي وه :

زما عزيز مصطفی صغير !

له بده مرغه زه تر اوسه ستا په حال نه يم خبر سوی، ما دا عقيده درلوده چي ته به په خپلو کوښښو کي په هوسايي سره کامياب سې. د لندن د استخباري اداري د شرق څانګه ستا له پوهي او ذکاوت څخه ډېري هيلي او اميدونه لري.

زما عزيز دوسته !

آيا ممکن نه دي چي ته خپل سرګذشت او هغه زيار دي سرتر پايه وليکې او را ولېږې.

آيا د انقرې د قومي مجلس حالات او د کماليونو د معاهدې کيفيت چي د بالشويکو سره يې کړېده ځان ته معلوم کړی دئ؟ آيا تا ته د هغې معاهدې او روح درمعلوم سوی دئ چي د ترکانو د سياسي مرکزو او د ايراني سفير تر مينځ ليدل کېږي؟

زما ګران دوسته !

او دا موضوع په خپل راپورټ کي پوره وليکه، چي روابط څنګه او له څه قسمه معلومېږي، د دې ټولو خبرو جواب په شرح او تفصيل سره وليکه، چي د نمبر ۲۵ لوی افسر ولي په دغو موضوعاتو کي ستا څخه معلومات غواړي؟

زه به ستا د هر ډول کوښښونو تشکر وکړم او د دې مبارکي درکوم چي تا د اسلامي نړۍ پر جذباتو او حسياتو کاميابي او پوره اقتدار حاصل کړی دئ.

لندن روم ايډورډ

ستاسي مخ م – ع

دا ليک يې ولوست، جناني يو بل خط را ويوست چي په هغه کي

ليکلي وه :

زما ګران مصطفی صغير !

زه د هغې ورځې څخه ډېر خوشحاله يم چې ما ته دا رامعلومه سوېده چې ته غواړې د استانې په اسلامي احزابو کې ځان داخل کړې او يو له اعضاوو څخه يې وشمېرل سې، او دې معلوماتو زما خوشحالي نوره پسې را زياته کړه چې ته خيال لرې يو داسې حزب تشکيل کړې چې د ترکانو او هندي مسلمانانو دواړو څخه يو متحد حزب او نوم يې (ترکي او هندي متحد حزب او د خلافت د جمعيت حليف) وي. پرون ما ته دا طلاع راورسېده چې د ۲۵ نمبر اعلی افسر په لندن کې دئ، او خورا ژر يو خورا معقول مبلغ درلېږي، چې ته د هغه په قوه وکړای سې خپل مرام او مقاصد حاصل کړې، او کوښښونه چې په انقره (کوچنۍ ايشيا) او هندوستان کې کېږي کشف او له مخه څخه يې پرده ليري کړې.

جناني وروسته د هغو دوو خطو تر لوستلو نور خطونه مطالعه کړل، مګر کم داسي خط يې نه پکښې وموند چې د مطلب له پاره مفيد واقع سي، په دې کاغذو کې بعضي کاغذونه داسي هم پيدا سوه چې د مصطفی صغير په شخصي او خصوصي چارو پوري يې اړه درلوده. مګر جناني هغو ته اهميت ورنکړ.

جناني دا کاغذونه ټوله پرله واړول، هريو يې وايه او د مخ بېه يې په پرله اوښتو او ايښېدو کې وه، او د مصطفی صغير هغو حرکاتو ته چې به يې کتل چې د دې په وطن يې اړه درلوده نو به يې رنګ ژړ سو او بڼه به يې والوته او چې د ده مکر و فرېب او چالاکۍ ته به يې وکتل د انتقام جذباتو به يې څېره غضبناکه کړه او تر سترګو به يې د قهر او غضب شغلې راووتلې.

په دغه وخت کي جنانه په دې پوه سوه چي هغو خدماتو ته ملا وتړي او هغو خطرناکو ازموينو ته ځان آماده کړي چي د دې وطن په هغه باب کي دې ته ږغونه ورکوي، او نارې ور وهي.

دا د ځان د قربانولو ځخه نه بېرېده او تر خپله وطنه پوري يې ځان هيڅ نه باله، دا ځکه چي دا يوه داسي يتيمه نجلۍ وه چي د قربانۍ امتحانونه يې پخپله کورنۍ کي ليدلي او پلار و ورور يې دواړو د اسلام له پاره د عزت او شرف پر ميدان مدافعه کړې او خپل سرونه يې قربان کړي وه، د وطن د ساتني او د خپلي سپېڅلي مېني او خاوري د حفاظت په لار کي قرباني سوي وه.

د جنان په زړه کي دې احساس فوق العاده قوت وموند او د تاريخي رواياتو په لوستلو يې تقويه وموندله، هغه روايات چي د اسلامي پخوانيو قرنو د مېرمنو کارنامې يې بيان کړي دي، چي مندي او خوندي به د خپلو زامنو سره په مرګ داسي لوبي کوي لکه د ونې ځخه چي وچي پاڼې پر مځکه تويېږي.

نن د مصطغی صغير تر راتګ د مخه دې د خپلي خور خاله د اديب خانم د يوې مشهوري ترکۍ ښځي کتاب مطالعه کاوه، په دغه وخت کي د دې دا خيال سو چي ولي دا هم لکه خپله خور، د دين او وطن په احترام د اسلام خدمت ته ملا نه تړي، چي دا هم لکه خالده اديب خانم، د وطن په حمايت او د خپل قوم په همدردي معرفي او مشهوره سيه، او هغه قدر او منزلت چي هغې موندلی دئ دا يې هم حاصل کړي، دې پخپل زړه کي وويل، چي خالده اديب خانم په هغه وخت کي د هغو زړه ورو او سربښندونکو وطن پالونکو سره چي د نړۍ سره يې تعلقات منقطع وه، د انقرې د ښکلني مځکي د لوړو غرو پر سر په خدمت مصروفه وه، نو آيا د دې له پاره نه ده مناسبه چي دا هم

لکه خالده ادیبه د وطن خدمت وکړي او تر هغو څو وطن د دې جد و جهد ته احتیاج ولري خدمت وکړي، دې له ځانه سره وویل: زه هم لکه خالده ادیبه یوه ښځه یم او د نسب سلسله مي هم سلطان محمد فاتح، سلطان سلیم، سلطان سلیمان قانوني ته رسېږي. که څه هم په دغه وخت کي جنان ته د مجبوریت حالت ورپېښ و، چي هغه حالت د دې ښکلا او جمال یو په دوه کړی و، مګر بیا هم سره له دې دا ډېره مستقل مزاجه او د پوره ارادې مېرمنه ده، دې د ځانه سر د یوه فکر فیصل هوکړه، شاوخوا نیلي سطح یې تر نظر وایستلهٔ، د ایشیا او یورپ دواړه غاړي یې مخ ته پرتې دي، بحر د سپوږمۍ په رڼا کي ترنم کاوه، جنانه له دې نندارې څخه ډېره متاثره سوې، د آستانې تاریخي عظمت پر دې خورا درونده اثر واچاوه، آستانه په دنیا کي یو ښار دئ، چي ترکانو د اسلام دارالسلطنه مقرر کړی دئ، د دنیا ټول حکومتونه د ترکانو سره ځکه حسد کوي چي د دوی په لاس کي یو ښار دئ چي نه یوازي عجیب او غریب دئ، بلکي سړی ویلای سي چي خدای تعالی پخپله پراخه مځکه کي هیڅ ښار داسي ښکلی او عجیب نه دئ پیدا کړی. دې نازکي منظرې د جناني جذباتو ته نور هم ترقي پسې ورکړه او دې په لوړ آواز بې اختیاره وویل:

"آیا زه دا حق نه لرم چي خپلي ویني د دې ښار په ساتنه او مدافعه کي تویې کړم، هو د هغه ښار په مدافعه که خدای دي نه کوي زموږ د لاسه ووزي یو داسي تاوان به وي چي تلافي به یې غیر ممکنه وي، بلکي که ووایو چي د دې ښار د لاسه وتل د اسلامي نړۍ له پاره یوه کاري ضربه ده مبالغه به نه وي".

تر دې وروسته جنانه کوچ ته راغله او پر کوچ وغځېدله او د هغو خدمتو په طرز او طریقه کي یې فکر کاوه چي دې اراده کړې وه،

وروسته تر ډېر فکر یې یو صورت فکر ته ورغی چې هغه صورت د دې امیدونه تازه کړي او خوشحاله سوه وې ویل :

"ما ته مناسبه ده چې د دې ځایه څخه پر دغه مخ انقرې ته ولاړه سمه او د مصطفی کمال حضور ته ورقې وړاندې کړم".

دا یې وویل بیا یې هغه خطونه چې د مصطفی صغیر د یاداښت په کتابچه کې یې موندلې وه او یوه پلا یې بیا ولوستل او دوهمه پلا یې بیا پر هغو کاغذو یو سرسرکې نظر تېر کی، د دې پلا دې یو څو ساده مکتوبونه ولیدل په خیال یې بېکاره او غیر ضروري ورغلې اراده یې وکړه چې څیرې یې کړې او وې غورځوي، مګر بیرته یو بل خیال ورغی او وې ویل :

"ممکنه ده چې د هغو کاغذو څخه د دې قوم ته یو څه فایده ور ورسېږي، ځکه یې نو د هغو څیرل مناسب ونه بلل.

دا یې د ځانه سره وویل او د کوچ څخه راپورته سوه خپل بکس یې پرانیست د مصطفی صغیر د یاداښت کتابچه یې په احتیاط پکښې کېښېښووله او بکس ته یې کلپ ورواچاوه.

ځکه چې په هغه وخت کې نقلیه وسایل محدود او لږ وه، نو د انقرې سفر خورا یو سخت او مشکل سفر و، په دې چې مصارف یې ډېر غوښتل. دې خیالاتو جنان په فکر کې اچولې وه، چې څه وکړي او څه ورله مناسب دي، تر لږ فکر وروسته یې پر بڼه د خوشحالۍ نخښې پیدا سوې او په زړه کې یې وویل :

"زما څخه ۱۰۰ عثماني لېرې سته چې ما پس انداز او ذخیره کړي دي او دا هغه رقمونه دي چې مصطفی صغیر دې ته کله کله ورکړیدي، زه کولای سم چې په هغه د سفر مصارف وکړم، مګر د وروښو به څه سربښته وکړم، هو د هغو کوچنیانو ساتنه او پالنه به څوک

کوي؟ "

جنانه به دلته بیا یو پلا افکارو او خیالاتو پر سر سره واخیسته، دا دغو افکارو اخیستې وه او دغه خیالات یې په دماغ کې پورته و کښته کېدل چي د خدای تعالی په فضل او مهرباني هر اشکال چي د دې په زړه کي ورګرځېده، دستي یې د حل لار او صورت هم په زړه کي ورګرځېده، د دې کوچنیانو ساتندوی لوی خدای تعالی دئ، زه به دوی ته ۵۰ لېرې ورپرېږدم او د خپل اکا د ماندینې په لاس بې ورکړم او د دې تر روزنه لاندې بې پر خدای وسپارم.

دا فکر یې د ځانه سره فیصله کړ، اراده یې وکړه چي ژر د خپل اکا ماندینه ووینې او ملاقات ورسره وکړي او هلکان ور وسپاري، مګر بیرته یې خیال وګرځېده او دا کار یې سبا ته معطل کړ.

دغو ټولو افکارو او خیالاتو د دې په اعضاوو کي درد او په بدن کي یې یو قسم ستړیا او ستوماني پیدا کړې وه، مګر چي د خپلو پلانو په ترتیب کامیابه او د خپل عمر او کار نقشه یې پخپل فکر کي جوړه کړه نو یې زړه ډاډه سو، د کوچه څخه را ولاړه سوه او یو درد او تکان یې محسوس کړ ځان یې پر پلنګ واچاوه او د ملایکو حفاظت ته یې ځان وسپاره.

# دریم فصل

## د خلافت جمعیت حلیف حزب

مصطفی صغیر د (ایلري) اخبار مدیر پخپله لومه کښې ایستلی او دا موقع یې پیدا کړېده چي د ایلري اخبار د ده افکار او خیالات په پراخه پیمانه نشر کړي، او د ایلري اخبار د استنبول په ټولو اخبارونو کي هغه اخبار و چي د مصطفی صغیر د افکارو د نشر امتیاز یې حاصل کړی و، او د استنبول مسلمانان یې د مصطفی صغیر د افکارو تتبع ته رابلل، ایلري د اخبار دا رویه قصداً نه وه، بلکي یو غلط فهمي وه او د ایلري د اخبار مالکان په دې نه وه خبر چي د مصطفی صغیر اغراض او مقاصد څه دي؟ او دی یې د اسلام او مسلمانانو یو غیور خیرخواه په خیال ورغلی و.

مصطفی صغیر په استنبول کي پوره نفوذ او شهرت موندلی و، د یوه حزب اساس یې ایښی و، چي نوم یې (د خلافت جمعیت حلیف ترکی هندي ګوند) و، دې حزب د مصطفی صغیر قدر او شهرت خورا ډېر او نور هم پسې زیات کړ، د عوامو او متوسطو طبقو څخه یې اعتبار د ملت لوړو طبقو ته سرایت وکړ، د لوړي طبقې هر فرد اعتماد پر درلود. د دغه جمعیت په ذریعه ده د یوې خوا څخه عوام ځان ته ورجلبول او له بلي خوا څخه یې خپل نفوذ په باب علي (ترکي مجلس

وزرا) کي پیدا کاوه، دی به زیاتره باب علي ته ورتلی، او د ترکي وزراوو سره بې مشوره کوله، د عوامو د جلبولو له پاره دا به یې چم را ایستلی و چي جامع ګانو او مسجدو ته به ډېر ډېر ورتلی، چي عوام پر ده د صالح او متقي سړی ګمان وکړي.

سربېره پر دې به ده خیراتونه هم ډېر کول او په خیریه چارو او د کتابخانو په تأسیس کي بې اعانې ورکولې، د دغه جهته د استنبول جرایدو د ده اوصاف په خورا واضح او برجسته ډول نشرول، او د ده دیني غیرت او پر خلافت د ده غیرت یې ډېر ډېر ستایه. د استنبول جرایدو د ده شهرت انقرې ته هم ورساوه، د هغه ښار جرایدو هم د مصطفی صغیر پر شخصیت لیکل سوي مقالات د استنبول د جرایدو څخه نقل او خپاره کړه، او د اناطول په ترکانو کي یې د مصطفی صغیر شهرت خپور کړ. په څو ورځو کي د اناطول په هر ځای کي د مصطفی صغیر نفوذ پوره خپور سو، که په دغو ورځو کي چا مصطفی صغیر لیدلی وای چي د انقرې د ملیت حاکمیت او یکي ګون جرایدو چي د ده په ستاینه او تعریف ډک وه او ده به هغه لوستله لیدلی وای دا به ورمعلومه سوې وای چي دی څومره د دې جرایدو د لوستلو په وخت کي ګزوبر کېږي او څومره یې د مخ څېره او بڼه تازګي مومي او د کامیابۍ په نشه کي غرق او بېسده دئ.

مقصد دا په انقره کي د مصطفی صغیر شهرت خپل معراج ته ورسېدی، نو ده د ځانه سره دا فیصله وکړه چي انقرې ته ولاړ سي او د اناطولیه د ترکانو او غتهانو او د انقرې د حکومتي مشرانو یا د وطني جدوجهد د سربرآورده افرادو سره ملاقات وکړي، مصطفی صغیر وروسته تر فکر او دقت د ځانه سره دا فیصله کړې وه چي د ده د پروپاګنډ کامیابي په استنبول کي دا خبره ممکنه کړې وه او بیا یې د

انقرې وطني جد وجهد پوره معلوم کړی خپل راپورټ به خپلې مربوطه ادارې ته وړاندې کړي او يو معقول انعام او جايزه به حاصله کړي، بيا به نو وروسته هغه اميد ونه چي جنان ته يې لري هغه جنان چي د دې حسن او جمال د هند تر حسن و جمال او د هند تر شنو او زرغونو ځنګلو ډېر زيات او خوندور او زړه وړونکی دئ په نکاح کړي او دا آرزو به په بې غمه زړه پوره کاندي.

مصطفی صغير د فريد جاويد سره چي د ايلرې د اخبار مدير دئ او د خپلو اغراضو يې آله ګرځولی تعلقات زيات کړه او د مياشتې يې يو مخصوص مبلغ ورته ټاکلی و، هره مياشت يې دا مبلغ فريد جاويد ته ورکاوه، دا رقم که څه هم د مسټر نلسن د جاسوسۍ د محکمې څخه ورکول کېده، مګر مصطفی صغير به داسې وانمود کاوه چي دا رقم فقط ده ته د ده د هغو اسلامي قابل تقدير خدماتو په مقابله کي ورکول کېږي چي دی يې اجرا کوي. د ايلرې د اخبار مدير فريد جاويد ډېر يو ساده او سپېدلی سړی و، د ده ساده ګي دا وه چي د مصطفی صغير په جد و جهد کي يې بې هيڅ و هيڅ اشتراک وکړی، او په هيڅ معامله کي يې مقابله يا معارضه ونکړه، د مصطفی صغير فريد جاويد په نظر يو ساده سړی ورغلی و، او د ده څخه يې ښه کار واخيست، اراده يې وکړه چي انقرې ته ولاړ سي، يوه ورځ يې فريد جاويد ته وويل چي دی خيال لري چي انقرې ته ولاړ سي او دا سفر صرف د اسلامي اغراضو له پاره دئ، فريد جاويد د مصطفی صغير اراده ځان ته معلومه کړې ورته ويې ويل چي:

"په انقره کي به ستا خورا شانداره هرکلی وسي او غازي مصطفی کمال پاشا به ستا سره روغبړ وکړي، او ستا لوړي کارنامې به اناطوليه ډېري تقدير کاندي".

مصطفی صغیر په یوه لنډه موده کي د استنبول د سیاسي محافلو اسرار د خپل هندوستاني معتمد په ذریعه چي درمهار نومېده او ما یوه ورځ په داسي حال کي چي پر یوه بادبان لرونکي بېړۍ ناست او قاضي کویي ته روان و ولید، معلوم کړه او د انقرې د تګ اراده یې وکړه، چي د اناطولیه جدوجهد پخپلو سترګو ووینې او د ترکي احرارو اسرار و ځان ته معلوم کړي.

درمهار د مصطفی صغیر تر لاس لاندي یو خورا فریبکاره چالاک سړی و، دی په دې سره مامور و چي په قاضي کویي کي د کمالي حزب حالات ځان ته معلوم کړي.

تر څو چي یوه ورځ د شپې هغه ځای ته ورغی چي کمالي احرار هلته سره راټولېدل او د دوی ټوله کاغذونه یې غلا کړه، په دې کامیابي چي د ده په ټولو اقداماتو کي خورا یو مهم کار و، دی ډېر خوشحاله سو او کاغذونه یې مصطفی صغیر ته راوړه، مصطفی صغیر دی ډېر خوشحاله ولیده او ده ته یې وویل: ګمان کوم دا پلا به دي کم جرم نه وي کړی؟

درمهار: یه آغا. دا یې وویل او یو څو کاغذونه یې د جیب څخه را وایستل او مصطفی صغیر ته یې کښېښوول، مصطفی صغیر خوشحاله سو، کاغذونه یې واخیستل او په یوه ژوره کتنه یې ورته وکتل او بیر ته یې درمهار ته سترګي ور واړولې.

"زه تا مستر نلسن ته ورولم، هیله لرم چي تا ته ستا د خدمتونو پوره مکافات درکاندي".

درمهار دا واورېده سر یې کښته واچاوه او د مصطفی صغیر څخه یې اجازه وموندہ چي خپل هغه کوچني ځای ته ولاړ سي چي د فاتح مسجد جامع ته نژدې و او هغه ستړیا او ستوماني چي د ډېرو

کارونو په واسطه پر راغلې وه واچوي.

درمهار چي ولاړی مصطفی صغیر کاغذونه پر انیستل او یو یو یې ملاحظه کاوه، په کاغذو کي ډېر خطونه پیدا سوه چي په یوه کي لیکل سوي وه:

هر کار لکه چي زموږ زړه غواړي هغسي کېږي او قومي مجلس د ماسکو د حکومت سره یو معاهده کړېده، چي د هغې منشا دا دئ چي د شرق څخه د برطانیې نفوذ او اقتدار محوه سي، او د دې مقصد د حاصلولو له پاره کمالي احرارو په شمالي قفقاز کي اسلامي حکومتونه تأسیس کړي او دا کوښښ هم کوي چي ایران د پردو ګاونډیانو د نفوذه څخه وژغوري. د پښتنو د لښکر تنظیم ته یې هم لاس ورته کړی دئ، چي پر هند حمله وکړای سي.

په نورو کاغذو کي هم له دغه قسمه خبرونه او حوادث لیکل سوي وه، مصطفی صغیر دا ټوله مکتوبونه ولوستل او ډېر خوشحاله سو. ګواکي ده ته یوه قیمتي خزانه په لاس ورغله، او په ډېره آساني بې له هیڅ زحمت او زیاره څخه یې پر خپلو اغراضو بری وموند.

په استنبول کي یو خورا تنګ بازار و چي زیاتره به د وګړو د هجوم په واسطه تېرېدونکو او عابرینو ته په دې بازار کي تردد خورا تکلیف او زحمت و، علاوه د بازار تر تنګوالي کثافت او بدبویي هم پکښې ډېره وه. د دې علت دا و چي دا بازار د ماهي فروشانو مخصوص بازار و، او د ماهیانو مارکېټ غوندي ځای و، ټوله ماهي والا په دغه بازار کي سره راغونډ سوي وه، هر ماهي والا به خپل ماهیان په بازار کي د سړک پر یوه څنډه او بله څنډه ایښي وه، له دې وضعیته څخه طبعاً بازار نور هم تنګي پیدا کوله، او ضمناً د ماهیانو د مخصوصي وږمې په واسطه او د وګړو د ازدحام له کبله د دې تنګ

او کثیف بازار هوا دومره خرابه او بدبویه کېدله چي د تېرېدونکي زړه په تر خوله لوېدی، او پر انسان به یو بل شانته حال راغلی، د دې بازار په ځینو دوکانو کي لندې مېوې لکه هندوانې او نور شیان هم خرڅېدل، او ضمناً د ګلانو او نورو شینګیاوو دوکانونه هم په دغه تنګ بازار کي سره راغونډ سوي وه، علاوه پر دې ټولو له بده مرغه دا بازار پر یوه داسي ځای واقع سوی و چي هر څوک به د سیاحت او د دې اسلامي مهم پایتخت د تماشې له پاره په دې ښار ور داخلېدی، باید لومړی دغه بازار قطع کړي او وروسته به نو د ښار نوري برخي ویني، له دې حاله سره دا طبعاً لازمه وه چي هر سیاح به د دې حالت او وضعیت له لیدو څخه ډېر متأذي او داسي متأثر سو چي د ښار د لیدلو او تماشې څخه به زړه مات او هغه اندېښنه بې چي د دې اروپایي باعظمته پایتخت په باب کي سنجولې وه باطله او غلطه کړه، بلکي حسرت به ورپېښ سو او د استنبول د ټوله ښار څخه به نظر واوښت، هر څه چي به د دې ښار په باب کي اورېدلي وه ټوله به غلط او دروغ وبلل.

په دغه کرغېړن و ننګین او بدبویه بازار کي یوه عجیبه او خطرناکه حادثه پېښه سوه، هغه دا وه چي یو یوناني سړی چي نوم یې (بوغارکي بابا) و د بازار پر سړک ناست و ماهیان یې د خرڅلاو له پاره ایښي وه، په دغه ترڅ کي یوه ترکۍ خانمه تېرېده، چي خورا په فلاکت او بدبختۍ او خوارۍ ککړه او دربدري یې له حاله څخه معلومېده. دا ښځه دغه ماهي والا ته راغله او د ماهیانو قیمت یې ځني وپوښتی، یوناني ماهي والا چي یو فضول او بې باکه سړی و د ترکۍ خانمي سره یې مسخرې شروع کړې، د څو مسخرو آخر پر طعنو او پېغورونو تمام سو، د خانمي د سوځولو له پاره یې د خپل ملګري

بل ماهي فروش سره د کمالي حکومت په بد ویلو او غندلو شروع وکړه، او داسي يې ورته وويل: ژر دئ چي قسطي (د یونان پادشاه قسطنطين) فاتح به استنبول ته راننوزي. خانمه خوارکی چي يوه وطند وسته ترکۍ ښځه وه، دې احمق او رذيل ته يې څه جواب ورنکړ پټه خوله ولاړه وه، او هر څه چي ده ویل هغې اورېدل، څو په آخر کي يې د نجات له پاره غیر له دې چي ځني تېره نه سي بله چاره ونه ليدله، دا چي يو څو ګامه ځني ولاړه یوناني ور ولاړ سو تر لاس يې ونیوله او له تلو څخه يې مانع سو.

دلته ښځه حيرانه سوه چي څه وکي، په دغه حال کي يو سړی چي (باسيلي بارايتوس) نومېږي د یوناني دوکان ته راغی، او يوه پياله شراب يې وخوړه، ده چي د هغه يوه پياله شراب وليده سمدستي يې درې پيالې پرله پسې وخوړلې او ښځه يې تر دواړو لاسو ونيول، خانمه د بېري څخه حيرانه او رېږدېدله، يو ګړی وروسته يواري شرابو بېسده کړ، باسيلي بارايتوس نامي کوښښ کاوه چي ښځه دننه دوکان ته ننباسي او پرله پسي په زيات اصرار ترکانو ته ښکنځل کول.

له دې منظرې څخه په ټول بازار کي هيڅوک هم نه سوه متأثره، ټوله دوکانداران پر خپلو دوکانو ناست وه، فقط تماشا يې کوله او د يوه هم د غيرت وينه او د انساني عواطفو هيجان پر حرکت نه راغی، د دې سبب دا و چي د دغه بازار دوکانداران ټوله یوناني او مسيحيان وه، په يوه کي دومره انسانيت نه و چي له داسي منظرې څخه دي متأثر سي، يا دي دا ظلم او تجاوز د انساني اخلاقو څخه منافي وبولي.

دا منظره دغسي په دوام کي وه چي يو ګړی وروسته يې تغير وموند، يعني نژدې و چي یوناني ښځه په دوکان ننه ايستلې وای، خو ښځي نارې او غلبلې وهلې چي په دغه موقع کي دوه تنه هندوستاني

عسکر په بازار کي تېرېدل او دا حادثه يې تر نظر سوه، او ورته راوګرځېدل، او ښځه يې د يوناني څخه چي خورا سخته يې ګير کړې وه، ايله او تر دې اندازې يې يوناني ته تهديد او اخطار ورکړ چي توري يې پر راوکښلې. څو په پای کي يوناني وبېرېدی او د دوی له خوفه څخه وتښتېدی.

په يوه عالم غلبلو او زووږ کي يې ترکۍ خانمه د بوغار کي څخه ايله کړه، پر لاري رهي او هندوستاني سپاهيانو په پوره حفاظت دا له دې مسيحي بازاره څخه د مسلمانانو محلې ته رسولې، په زخمي زړه يې په ژړاندو سترګو تر خپله کوره ورسوله. دا ورځ د جمعې ورځ وه، وګړي ډله ډله د جمعې د لمانځه له پاره د سلطان احمد د جامع مسجد پر لور روان وه او د خلفا و هندي او اروپايي سپاهيان د لاري پر دوو خواوو صف ولاړ او د سلطان المعظم محمد سادس خليفة المسلمين د راوتلو انتظار يې د سلام له پاره درلود، لږ څه وروسته د سلطان المعظم سپارلي په ډېر جاه و جلال سره د يوه پوره شمېر سپرو عسکرو چي په منځ کي يې روان وه راورسېدله، او وروسته د سلطان المعظم موکب تر شا د وزراو شاهي ګاډۍ روانې وې، د سلطان المعظم موکب چي تماشاچيانو ته راورسېدی، دوی سرونه کښته کړه او په لوړ آواز يې وويل : السلام علی امير المؤمنين.

د سلطان المعظم موکب ډېر باشکوه و، د سلطان المعظم له ليدلو څخه د تماشاچيانو اسلامي جذباتو او احساساتو تحريک وموند او ناڅاپه د دوی پر خپګان آمېزه مخونو او بڼو باندي د خوشحالۍ او هوس و فرحت نخښې ښکاره سوې، د سلطان المعظم په موکب پسې متصل يوې ګاډۍ د عمومو توجه جلب کړه چي په هغې کي مصطفی صغير، فريد جاويد د ايلري اخبار مدير او يو بل

هندوستاني سړی ناست وه، فقط چي مصطفی صغیر د وګړو په نظر ورغی، ټولو سیلانیانو د ده په لوړو صفاتو او ښو اخلاقو او برجسته شخصیت کي خبري او مذاکره شروع کړه، بلکي زیاتره د ده د لیدلو په واسطه مرعوب سوي د ده د تعظیم او احترام له پاره یې د (ژوندی دي وي مصطفی صغیر) ډغونه پورته کړل.

د سلطان المعظم او د کابینې د هیئت په وروسته پسې مصطفی صغیر مسجد ته ور داخل سو. مسجد چي د مسلمانانو او د یګانه خدایتعالی د مخلصو عبادت کوونکو څخه په یوه پلا ډک سو، مصطفی صغیر ته موقع په لاس ورغله، د دې له پاره چي د دې موقع څخه استفاده وکړي مشر سپه سالار، مارشال عزت پاشا ته یې ځان ور ورساوه او په خورا ډېر ادب یې په غوږ کي خبري ورسره شروع کړې او داسي عرض یې ورته وکړ:

"محترم سپه سالار! ما اراده کړېده چي سبا انقرې ته وخوځېږم".

عزت پاشا: "انقرې ته ځې؟ د څه له پاره؟"

مصطفی صغیر: "ځکه غواړم دا ګړی هلته ولاړ سم او ملي و عسکري خدمت په همهغه ځای کي وکړم".

عزت پاشا: "خندا، ډېر ښه خدای تعالی دي په دې مقصد کي کامیاب کړه! کله د حرکت خیال لرئ؟"

مصطفی صغیر: "سبا که خدای کول روان یم".

عزت پاشا: "ډېره ښېکمرغي ده، دعا کوم چي په خیر ورسېږې.

که څه هم عزت پاشا په ظاهره په مسا و د مصطفی صغیر سره خبري کولې، مګر سربېره پر دې یې بیا هم په زړه کي خورا بد ځني راتله، او نفرت یې ځني کېده، چي د دې قلبي نفرت نخښې بې کله کله

د زړه د نفرت امېزه حرکت په واسطه پر مخ او روښانه تندي هم نمآینده ګي او تمثیل وکړ، مګر ژر بې یوه سیاسي مسا پسي وکړه او نې غوښتنه خپل لږ شانته نفرت او کدورت ښکاره کړي. که څه هم مصطفی صغیر د سپه سالار د مسا په نوعیت پوهېدی مګر بیا یې هم هیڅکله د کمالي احرارو د مرکز انقرې د ښار د تګ اراده نه پرېښووله.

تر لمانځه وروسته سلطان المعظم په شاهي ګاډۍ کې کښېنوست، او د خوشحالۍ په ړوړ او د (ژوندی دې وي خلیفة المسلمین) په شخول کي د شاهي قصر خوا ته روان سو، په څو دقیقو کې قصر یلدز ته ور ورسېدی. وروسته د سلطان المعظم تر حرکت عزت پاشا په خپله مخصوصه ګاډۍ کې سپور سو او بابعلي (قصر یلدز) ته راغی.

ځکه چې عزت پاشا د مشتبهو او مضنونو حالاتو په باب تل د خپلو جاسوسانو په ذریعه او د بعضو مخصوصو وطن غوښتونکو په واسطه چې همېشه بې د مصطفی صغیر غوندي افرادو مراقبت درلودی او د مصطفی صغیر په اعمالو او حرکاتو یې هره ورځ اطلاع درلوده، ژر د خپل تحریر مخصوص اطاق ته راغی او پر کوچ باندې کښېنوست او خوړا یو عمیق فکر ورپېښ سو، وروسته تر څو دقیقو فکر د کوچ څخه راپورته سو د تحریر مېز ته نژدې پر چوکۍ کښېنوست، پنسل او کاغذ یې راواخیست یو اوږد او مفصل مکتوب یې د مصطفی صغیر د اعمالو او افعالو په شاوخوا کي په پوره تشریحاتو سره د خپلي رایي او نظریې ولیکل، او ضمناً یې د وطني لوی مجلس څخه هیله وکړه چې د ده په ظاهري بیاناتو او وینا وو خطا نه و[illegible] او هم هیڅ قسم اعتماد پر ونکړي، همېشه څار پسې کوي او

مراقبت يې پرې نه ږدي. د مکتوب تر ليکلو وروسته يې کاغذ په پاکټ کې واچاوه، او لاک و مهر يې کړ، نو يې زنګ وواهه سړی راغی، امر يې ورته وکی چې کنډک مشر علمي شوکت چې يو منصبدار او د ده ډېر پر اعتماده و راحاضر کړی، څو دقيقې وروسته علي شوکت اطاق ته رانووت عسکري رسم تعظيم يې وکړ، سپه سالار عزت پاشا مهر سوی مکتوب ده ته ورکړ او ورته وې ويل :

"ژر انقرې ته روان سه، او دا مکتوب په ډېر احتياط د انقرې د ملي مجلس رئيس (مصطفی کمال پاچا) ته ور وسپاره، مګر فکر دي او سه چې هيڅوک د ر خبر نه سي او د سړي علم پر دې پټ سِر رانه سي".

علمي شوکت د مکتوب د ساتلو او په سِري او مخفي صورت رسولو يې تعهد کړی عسکري رسم تعظيم يې وکړ د باب علي څخه راووت چې د سپه سالار عزت پاشا د پاکو مقاصدو پر ځای کولو (يعني د انقرې د حکومت د استحکام او د اسلام د دښمنانو د جاسوسانو او پرپاګنډيانو د شر او فتنې څخه د هغه د ساتلو له پاره) د خپل مقصد خوا ته وخوځېدی.

د يوې خوا څخه مصطفی صغير او د ر مهار د انقرې د سفر په تهيه بوخت دي، او له بلې خوا څخه د ده معشوقه جنان د خپل اکا مانديني ته ناسته ده او په ډېري خواری او عاجزی زاری او جګی ورته کوي چې د دې د دوو کوچنيو ورونو غمخوري او روزنه تر هغو څو و انقرې ته ځي او د هغه ځايه څخه بيرته راځي پر عهده واخلي او قبوله يې کي، ځکه چې د جناني هره خبره د زړه له کومي څخه د اسلام او وطن د مينې او محبته ډکه د يوه زخمي زړه څخه په ډېره بې قراري او غمجنه لهجه د دې له خولې څخه راوتله او د سينې د يګ يې پر

ایشناو راغلی د هري کلمې سره یې تر بیمارو او شهلا سترګو یوه روښانه او ښکه هم لکه د شبنم سپینه مرغلره راجلا کېده، نو یې د اکا ماندینه یو ازي غمجنه نه بلکي متأثره هم سوه او د دې خواهش یې په خورا خوشحالي قبول کړ.

او ژر یې کوچني هلکان تر لاس ونیول د ځان سره یې کور ته بوتله، او تر هغو څو جنان د انقرې څخه بیرته راګرځي دا بې د دواړو ورونو روزنه او تربیه کوي.

جناني وروسته د ورونو تر سرښته او غمخوړني د سفر مختصر لوازم تهیه کړه او د مصطفی صغیر روزنامچه یې په ډېر احتیاط پخپل لاسي بکس کي کښېښوول، وروسته یې د خپل اکا د ماندینې سره خدای په اماني وکړه او د کاله څخه راووتله، په یوه بېړۍ کي کښېنستله او مخ د حیدر پاشا د سټېشن پر لور راوخوځېدله، چي د هغه ځایه څخه د اورګاډي په ذریعه اسکي شهر ته ولاړه سي.

نن د پخوا څخه برخلاف د حیدپاشا پر استاسیون د اناطولیه د مسافرینو چي مخ پر هغه خوا روان دي فوق العاده هجوم معلومېږي، مسافران په ډېر جد و جهد ځانونه د اورګاډو په پټلیو کي ځایوي، او هر څوک د ځان له پاره ځای نیسي، د اورګاډي په پټلیو کي خالي ځای نه معلومېږي، په دې حالت کي جنانه خواره هم استاسیون ته راورسېده او چي د ګاډۍ ټکټ یې واخیست فیلپ فارم ته راووتله، د ځای له پاره چي یې هر څه کوښښ وکی کامیابه نه سوه، فایده یې ونکړه، په دغه وخت کي د دې پر بڼه یو عجب او غریب حالت ښکاره سو. خپګان او کدورت د دې تازه سره او سپینه څېره د ناامیدۍ او یأس په ژړوالي وربدله کړه.

د مایوسیت له کبله یې پر ټولو اعضاوو لرزه او رعشه لوېدلې

وه، په دغه ضمن کي یو زلمی عسکري صاحب منصب چي ددې پرېشان او لرزان حالت ته د ابتداء څخه ملتفت و ورته راتېر سو، او په ډېره نرمي او لطف یې د جناني څخه یې وغوښته چي د ده سره مشایعت وکړي، دې هم د ده خواهش ومانه، څو منصبدار دا د یوې پټلۍ دروازې ته ودرولـه او د دې څخه یې وغوښته چي ورننوزي. جنانه هم فوراً ورداخله سوه او په دې پسې صاحب منصب هم ور داخل سو، نور وګړي یې یوې خوا ته کړه یو سم او بېغمه ځای یې ورته تهیه کړ، او وروسته یې دې ته په ناسته اشاره او تکلیف وکړ.

خوشبختانه دا زلمی علي شوکت بېګ عسکري منصبدار دئ چي د عزت پاشا سپه سالار له خوا د کاغذو او مکتوبو وړلو له پاره ټاکل سوی دئ، او س د دې ریل په ذریعه انقرې ته روان دئ، هو ! د زمانې د خوا څخه زیاتره دغسي واقعات پېښېږي، چي دوو مینانو ته یې د ملاقات موقع ورکړېده، دغه دئ او س هم سم د هغو نادرو واقعاتو سره دا دوه پاک او سپېڅلي وجودونه چي پر وطن عاشقان دي مشترکه وظیفه پر غاړه ورلوېدلې او دواړه په سفر روان دي.

ریل به همېشه د حیدرپاشا د استېشن څخه اسکي شهر ته پر ۹ بجې ایله کېدی، مګر نن د پخوا څخه مخالف ریل معطل دئ او د ۹ بجو پر ځای پر ۱۰ بجې حرکت کوي، دا ځکه چي د استنبول عالي محکمې د استاسیون رئیس د یوه فرمان په ذریعه مستحضر کړی ځکه چي مصطفی صغیر انقرې ته ځي باید د یوې مخصوصي پټلۍ انتظام ورته وسي.

په ۲۰ دقیقو کي مصطفی صغیر سره د خپلو رفقاوو او دوستانو چي د ده مشایعت یې کاوه استاسیون ته راځي، علي شوکت بګ او جنان دی په داسي حال کي ولیدی چي پر ده خپل دوستان او مشایعت

کوونکي راګرځېدلي او دی یې په میانځ کي و، ملاحظه کړ. جنان د اسلام د خاین د دې حال له لیدلو څخه پر بل حال سوه او بنه یې والوته لاس یې وربېږدېد او زړه یې په شدید حرکت راغی، سترګي یې د وینو د کاسو په شان تکي سرې سوې او لکه سرپرېکړی مار تاو تاو کېده، ځکه چي ځان یې د خلکو په مابین کي ولیدی نو د دې له پاره چي د چا علم پر رانه سي مخ یې بلې خوا ته واړاوه، په دې ضمن کي مصطفی صغیر د خپلو ملګرو څخه خدای په اماني وکړه او د اورګاډي انجن د حرکت اعلام د شپېلۍ په ږغ وکړ، او د شپېلۍ په ږغ پسې سمدستي قطار پر حرکت راغی، وار په وار یې حرکت سرعت مونند تر هغو څو د استاسیون څخه وووت، او په خپل معین سرعت یې د بحیره مارمورا د ساحل ښکلي منزلونه چي د فنار بولي، قزل طوبراق او کورتیپه تر میانځ واقع دي پرې کولو شروع وکړه.

# ځلرم فصل

## بندي کېدل

د شپې پر ۲ نیمي بجې د انقرې ښکلي استاسیون ته ور ورسېده. د وګړو په هجوم او ازدحام کي علي شوکت بک کنډک مشر او جنان له واګونه ښخه راشوه سوه، جنانه هغه بکس ته متوجه ده چي د مصطفی صغیر روزنامچه پکښې ساتلې ده، او ضمناً یې ځان د مصطفی صغیر ښخه ګوښه کاوه چي وې نه ویني، ژر د استاسیون ښخه راووتله او خپل هغه ځای ته ولاړه چي د ځان د استوګني له پاره یې ټاکلی و.

وروسته علي شوکت بک په مصطفی صغیر پسې سره د ده د ملګري درمهار په کالسکه کي سپور سو، هر یو خپل ځای ته وخوځېده. جناني شپه د یوه سرای په خونه کي په ډېره ناآرامي او بېقراري تېره کړه. سهار په شنه خړه د انقرې د قومي حکومت مشران د مصطفی صغیر په راتګ خبر سوه، ډېر منصبداران د ده د ملاقات له پاره ځای ته ورغله، محلي جرایدو یې د راتګ خبر خپور کړ او د ده په ستاینه کي یې مضامین نشر کړه، د وطن مینه جنانه چي ټوله شپه یې په اضطراب او پرېشانی سهار کړې وه لمر خاته مصطفی صغیر د روزنامچې سره د یوه خورا لوی عمارت دروازې ته چي د ملي غټانو د مجلس له پاره ټاکل سوی و راورسېدله.

غازي مصطفی کمال پاشا په یوه مخصوصه کوټه کې پر یوه کوچ ناست او د مصطفی صغیر د ملاقات په انتظار کې و، دا هغه هندی خیرمن سړی و چې د ده د همدردۍ آوازه د خلافت سره د عثماني سلطنت په ټولو ځایو کې ګډه او خپره سوې ده. جنانه خوارکی چې د قصر د باغ دروازې ته راورسېده او فقط غوښته یې ورننوزي عسکري محافظ په خورا قهر او عتاب راوګرځوله، جنانه یوه دقیقه ودرېدله دوهمه پلا یې بیا کوښښ وکی، پهره دار بیا راوګرځوله، جناني چې هر څه زارۍ و جګی ورته وکړې فایده یې ونه کړه.

ښاغلو لوستونکو !

هیڅ به نه وي درمعلومه چې دې خواره ګوټي ته به چې د وطن په عشق او مینه اخته ده څه روحي عذاب ورپېښ وي، چې فقط یوازي د وطن د ژغورلو او ښېګڼي له پاره یې ځان په هر ډول خطراتو کي اچولی، تر دې اندازې چې تر خپل خوارۀ ژوند بې له هیڅ یوه مقصده تېره، په دې امید چې د مصطفی کمال سره ملاقات وکړي خپل ګران وطن او ملي مشران د هلاکه څخه وژغوري، مګر دا په څنګه کېږي چې د مقصد او مرام د موندلو څخه فقط و فقط یو عسکر چې د خپل ملت او وطن د راتلونکي حالته څخه بالکل ناخبره دئ مانع سوی، په حقارت او سپکتیا سره یې د مقصد او مرام له وصاله څخه راوګرځوي، جنان په متردد او مضطرب حالت کې ولاړه ده، د زړه له کومي څښتن تعالی ته په راز و نیاز کې ده چې : "خدایه ! د اسلام پر دې پرېشان حالت رحم وکړه، او داسي مه کوه چې زه بیرته ناکامه ځم".

په دې ترڅ کې یو زلمی عسکري صاحب منصب د قصر دروازې ته رارسېږي، پهره دادر د ده رسم تعظیم کوي، جنانه په لومړی کتنه

وپوهېدله چي دا زلمی صاحب منصب هغه شوکت علي بک د سپه سالار عزت پاشا استازی دئ، د علي شوکت بک وروسته د پهره دار عسکر د سلام تر اخیستلو جناني ته فکر سو او پوښتنه یې ځني وکړه: "خانمي تا دلته څنګه وینم؟"

جناني په جواب کي ورته وویل: "غواړم د لوی غازي مصطفی کمال باشا په حضور یا یې د مرستوني (یاور) په حضور مشرفه سم".

علي شوکت بک پوښتنه ځني وکړه: "نو یو پټ عرض ورته کوې؟"

جنان په جواب کي ورته وویل: "هو صاحب! هیله کوم چي د دې عسکر څخه ما تېره کړې".

علي شوکت بک د دې خواهش قبول کړ، عسکر ته یې وویل چي دا پرېږده، نو دواړه د قصر باغ ته ورننواته، جنان چي د قصر د عمارت دروازې ته ورنږدې سوه یو غنډ مشر چي د مصطفی کمال باشا په سریاوري یې افتخار درلود، په مخه ورغی، او په ډېر متانت یې د ده څخه خواهش وکړ چي د غازي په حضور یې مشرفه کړي. سریاور د دې سره وعده وکړه چي یوه پلا به غازي ته اطلاع ورکړي او اجازه به ځني واخلي، نو دی قصر ته دننه ورغی.

د اسلام په دې فلاکت او بدبختي راوړونکي حالت ټوله کاینات خپه او خواپوټه دي، د ترکانو د نجات او ژغورني له پاره ټوله څښتن تعالی ته زاری او فریادونه کوي، څو ناڅاپه د څښتن تعالی د فضل او مهربانۍ و رحمت بحر پر جوش او خروش راغی له هري خوا څخه د فتحي او خوشحالۍ دروازې د اسلام د دې مظلومانو پر مخ وپرانیستلي سوې چي یو له هغو څخه دا و چي د جناني ټوله مشکل کارونه آسانه سوه.

جنانه لا په اضطراب ولاړه ده د خوف او رجا په کتنه ګوري، سترګې يې په يوه ارغواني ګل کې دي چې د ې ته نژدې په يوه ښکلې ګلدانۍ کې نشونما موندلې د خپلې ځوانۍ څو ورځې سر ته رسوي چې ناڅاپه سرياور دروازه وپرانيستله او وې ويل :

"خانمې ! غازي ستا خواهش ومانه تا ته منتظر دئ، بسم الله راځه".

جنانه په سرياور پسې سوه تر يو څو کوټو چې تېره سوه، يوه لوی مطنطن سالون ته ورننوتله، مصطفی کمال پاشا يې مخامخ پر يوه کوچ وليدی او د ده تعظيم يې پر ځای او ورته وې ويل :

"اې د قوم فخره او د ملت روحه ! د انګليس د دې نماينده او ملعون جاسوس مصطفی صغير څخه خپل ځان او ملت وژغوره".

تر دې لنډو خبرو وروسته جنانې د مصطفی صغير روزنامچه سره د ټولو اوراقو او کاغذو غازي مصطفی کمال پاشا ته وړاندې کړه، غازي روزنامچه او پاتې د جنانې څخه واخيستلې او د يوه کوچ خوا ته يې د ناستې اشاره ورته وکړه، وروسته په روزنامچه مشغول سو. هر څه چې يې روزنامچه لوستله د قهر او غضب نخښې يې پر تندي ډېرېدلې، د روزنامچې د مطالعې تر تمامولو وروسته يې د مصطفی صغير اوراق او سپين کاغذونه چې ټوله په کيمياوي اجزاوو ليکل سوي وه او په سترګو نه معلومېده د مېز څخه را واخيستل او وې کتل، څو ټوله هغه اشتباهات او شکوک چې د جنانې د خوا د ده په زړه کې ورګرځېدلي وه د روزنامچې د معلوماتو په واسطه ځني رفع سوه، او يقين يې سو چې مصطفی صغير د انګليسانو نماينده او مخبر دئ او انقرې ته د خپلو مخصوصو اغراضو له پاره راغلی دئ.

مصطفی کمال پاشا لا په خپلو افکارو او اندېښنو کې غرق و،

چي ناڅاپه علي شوکت بک کنډ کمشر د عزت پاشا استازي دروازه وپرانیستله او سالون ته راوننوت، په عسکري رسم یې تعظیم وکړ، او د عزت پاشا مکتوب یې له جیبه څخه را ایستلي مصطفی کمال پاشا ته یې وړاندي کړ او عرض یې ورته وکړ:

"سپه سالار صاحب زما په ذریعه دا مکتوب تاسي ته رالیږلی دئ". مصطفی کمال پاشا مکتوب د علي شوکت بک څخه واخیست ده ته یې د ناستي امر ورکی، وروسته یې پاکټ وپرانیت او کاغذ یې راویوست، او په لوستلو یې شروع وکړه. دې مکتوب د روزنامچې تقویه کړې د جناني د صدق تصدیق یې کاوه، غازي مصطفی کمال مصطفی صغیر مشتبه بللی سرمېزي زنګ یې وواهه، سریاور یې راحاضر سو او حکم یې ورکړ چي: "فوراً به ځې او هندوستانی مصطفی صغیر به سره د ده د ملګرو ژر توقیف کوې".

سریاور تعظیم وکړ او د امر پر ځای کولو له پاره راووت، غازي مصطفی کمال د دوی دوو د هر یوه څخه ممنونیت څرګند کړ، او دواړه یې د انقرې لوی ملي مجلس ته د مېلمنو په حیث تر هغو څو د مصطفی صغیر محاکمه پای ته رسېږي قبول کړه، او په انقره کي د پاته کېدو یې امر ورته وکړ. مصطفی صغیر سره د خپلو ملګرو فرید جاوید او درمهار فوراً توقیف سوه، د دوی ابتدایي تحقیقات په ابتدایي محکمه کي شروع سوه، مصطفی صغیر په ابتدایي تحقیقاتو کي خپل ټول قابلیت او جدیت په کار او مصرف کړه، او د خپل جرم او جنایته څخه یې چي ده ته متوجه سوی و ځان وپیچه، په دې سوال و جواب او دفع و جرح کي یو څه زمانه تېره سوه، په آخر کي ابتدائیه محکمې د خپلو تحقیقاتو اوراق بشپړه کړه او مرتب کړي یې د استقلال محکمې (عالي عدالت) ته وړاندي کړل.

# پنځم فصل

## اعدام

لمر دغه دئ چي څرک يې وهلی دئ، وګړي ډله ډله د استقلال د محکمې و خوا ته د انقرې پر لويه لار ژر ژر را روان دي، ولي چي د استقلال محکمه د مصطفی صغير انګليسي مخبر پر قطعي او آخري فيصله باندي رأيه ورکوي، د محکمې په لوی صالون او په نورو ټولو اطاقو کي د جرايدو نمايندګان او عسکري منصبداران او د انقرې د ښار معززين او اهالي راغونډ سوي دي.

انګليسي مخبر مصطفی صغير د محکمې په لوی صالون کي درو قاضيانو ته نژدې پر يوه لوړ تخت چي د لرګو د کټارو په ذريعه سره جلا دئ په عسکري حفاظت کي ولاړ دئ، که څه هم د وګړو هجوم خورا ډېر دئ او يو عمومي قهر و عتاب په ټولو کي معلومېږي، مګر بيا هم خورا چپه چپايي ده، غير د عسکرو د پښو د کړپې څخه چي د تنظيم نيولو له پاره تګ و راتګ کوي، بل هيڅ يو شی دا چپه چپايي نه خرابوي، په ۵ دقيقو کي دا تردد هم پای ته ورسېدی، او يو عميق سکوت حکم فرما دئ، وروسته درې قاضيان د شا د دروازې څخه صالون ته راغله او پر خپلو مخصوصو چوکيو باندي کښېنستل. درې دقيقې وروسته د محکمې سرمنشي د مصطفی، درمهار او جاويد

ابتدایي تحقیقات قاضیانو ته ور وړاندي کړه، لوی قاضي سرمنشي ته د ابتدایي او مابورو تحقیقاتو د اوراقو د لوستلو امر وکړ، وروسته د هغو تر لوستل کېدلو ټوله هغه دستاوېزونه او شهادات او د اثبات اوراق چي لاس ته یې وروستلي وه په ترتیب حاضرینو ته وربښکاره کړه سوه. په دې پسې یې ډېري پوښتني او سوالونه د مجرمینو څخه وکړه، مصطفی صغیر په خورا تېزي او چالاکي او رشادت و ذکاوت د هري پوښتني جواب په ترکي ورکاوه.

که څه هم په ابتدائیه محکمه کې د جرم او جنایت څخه پر مخ انکار کړی او کورټ ناګاره سوی و، مګر په عالي محکمه کي اوس د قاضیانو د پرله پسې سوالاتو او اعتراضاتو په واسطه د خپلو دلایلو او ځان سپینولو څخه لوېدلی، داسي مقنن دلایل نه دي ورپاته سوي چي د ځانه څخه مدافعه په وکړای سي. نو چي ځان یې مجبور او ناچاره ولیدی او له هري خوا څخه لار پر وتړله سوه، مخ یې د ټوال ته راوګرځاوه او پر جرم یې اقرار وکړ، خپل پخواني اجراآت یې سره د اوسنیو مقاصدو چي د هغو له پاره انقرې ته راغلی دئ ټوله، له اوله څخه تر آخره پوري داسي بیان کړه:

"زه په لاهور کي چي د هند د مشهورو ښارو څخه دئ استېږم، او د یوې اصیلي کورنۍ څخه د هغه ځای یم، تر اعدادیې پوري مي خپل تعلیم په لاهور کي تکمیل کړی دئ.

ځکه چي ډېر ذهین او ذکي وم خپلو انګلیسي معلمانو زما تشویق وکی، چي انګلستان ته ولاړ سم، او د هغه ځای په یوه دارالعلوم کي داخل سم او عالي تحصیلاتو ته هلته خاتمه ورکړم، هغه و چي د دوی د تشویق په اثر مي ۱۰ کاله لاهور پرې ایښی انګلستان ته ولاړم، لومړي ۴ کاله مي د بریګن په مخصوص مکتب کي تعلیم وکړ،

وروسته د ایډنبرا دارالعلوم ته ولوېدم، او څو کاله وروسته د اکسفورډ په دارالعلوم کي داخل سوم او د لټکوکن د عالي مکتب د اعضاوو څخه وشمېرل سوم. د اکسفورډ په دارالعلوم کي مي (بي. اې) صنف پوره کړ، د تاریخ په مضمون کي مي د دوهمي درجې نښان واخیست.

څو ورځي وروسته یې د تعلیم تر تکمیل د اکسفورډ په دارالعلوم کي زه د وزیر هند ملاقات ته وروغوښتم، زه د ده په حضور مشرف سوم او حلف مي وکی چي د انګلستان او د هند د حکومت وفادار به یم او تل به د دوی د حکمونو پر ځای کول د ځان لومړی فریضه ګڼم، او هره وظیفه چي وما ته راوسپارله سي په پر ځای کولو به یې هیڅ قسم کهالي او نامردي نه کوم.

وروسته د وفادارۍ د حلف د مراسمو تر اجرا کولو د هند د وزیر په حضور بیرته د اکسفورد دارالعلوم ته راغلم، چي د تعلیم څخه فارغ سوم د مصر د ازادیخواهانو د اعمالو او حرکاتو په مراقبت مامور سوم، او ژر په ژر مصر ته ولاړم، د دې ماموریت تر انجامولو وروسته د ځینو سیاسي اغراضو له پاره اېران ته ولاړم، له هغه ځایه بیرته لندن ته راغلم، د لندن د اقامت په زمانه کي د انګلستان د خارجه وزارت د شرق د اسلامي ممالکو (ترکیه، اېران، افغانستان) په سیاسي مدیریت پوري مي ارتباط درلود. په ۱۹۱۴ کي یې هند ته واستولم او د هغه ځایه څخه د سویزرلینډ په تګ مامور سوم.

د لومړي عمومي جنګ تر تمامېدلو وروسته زه د انګلستان د سیاسي حالت په مطالعه مصروف او ورته ځیر سوم، او دې نتیجې ته ورسېدم چي اوس د انګلستان ټوله سیاست د عسکري عمومي قوماندان تر اثر لاندي دئ ولي؟ هغه وخت چي خارجه ادارې د

اناطوليه په باب کي تنظيميه رياست ته چي په استنبول کي اوسي راپورټ ورکړ تنظيميه رياست په جواب کي وليکل : "ځکه چي اوس په دې نازک فرصت کي په اناطوليه کي د هيڅ چا مال او سر په امان نه دئ ځکه نو د اناطوليې د قاتلانو سره يو تړون او مفاهمه د برطانيې اقتدار ته يوه کلکه صدمه وررسوي".

وروسته مصطفى صغير وويل : برطانيه غواړي يو خورا اوږد سياسي رول په اناطوليه کي ولوبوي، مګر بالعکس يونانيان غواړي دا پلان ژر په ژر عملي کړي او هم بايد دا څرګنده کړم چي انګلستان د لزوم او ضرورت پر موقع د يونان لاربښوونه کړې، هر څه چي لازم او مصحلت وي هغه به وکړي. په دې ضمن کي مصطفى صغير د برطانيا د طرفدارانو د پروپاګنډ طرح کړې پلان مفصل بيان کړ او وې ويل : "سلطان المعظم او د ده کابينې د برطانوي ايجنټانو سره د ناخبرۍ په واسطه هغه پروګرام بېله تردده څخه په پوره اطمينان عملي کوي او هم يې وويل چي انګليس د دې پروپاګنډ په واسطه د اناطولي د ترکي احرارو د تحريکاتو پر مخ استيصال کوي".

په دې ترڅ کي يې د هغو مشهورو انګليسانو نومونه واخيستل چي د دې پلان د جوړولو مهم اعضاء او روح بلل کېدل. په دغه ډول يې ټوله هغه کيفيت او د ادارې حالت څرګند کړ چي د مصطفى کمال پاشا د وژلو له پاره تشکيل سوی او د ی يې په وژلو سره مامور کړی و. او د وژلو د سازش د دې نقشې څخه معلومېده چي ده په څه ذکاوت د افغانستان د پخواني پادشاه اعليحضرت امير حبيب الله خان د وژلو پلان طرح کړی او هغه پادشاه څنګه ده پخپله وواژه، او په دغه واسطه يې د انګلستان له پاره څومره لوی خدمت وکړ.

ټولو حاضرينو چي په محکمه کي حاضر وه د ده بيانات په خورا

دلچسپي اوريدل. مګر فقط چي د اعليحضرت امير حبيب الله خان شهيد د قتل واقعه يې بې پردې او ښکاره څرګندڅه کړه ټوله حيرت واخيستل چي انګليسانو څنګه غوښته چي د امير حبيب الله خان په شهادت په افغانستان کي انقلاب واچوي او په دغه پلمه افغانستان ته ورسي، خپل نفوذ او اقتدار هلته ډېر او ټينګ کړي. مصطفى صغير وروسته د انقرې د دسيسې په باب کي بيانات ورکړه د هغو کسانو نومونه چي په دغه دسيسه کي شموليت درلود او ډېر هم پکښې مسلمانان وه سره د هغو روپو د تعداده چي دوى يې د وګړو څخه د اعانې په ډول اخلي مرتباً بيان کړه.

په هغو نومونو کي چي مصطفى صغير بيان کړه د استنبول د ډېرو لوړو کسانو نومونه داخل وه، قاضيان او هغه وګړي چي په محکمه کي حاضر وه د دې راز د ښکاره کېدو او هم د افغانستان د پادشاه د قتل د واقعې څخه ډېر حيران سول.

مصطفى صغير د خپلي خبري په آخر کي وويل، لندڼه دا چي برطانيې غوښته او کوښښ يې کاوه چي اناطوليه خپله مستعمره وګرځوي او اسلامي ـ ياسات يعني د ترکيې سياست په لاس کي ونيسي[1].

---

[1] يعني د برطانيې حکومت هيله درلوده چي خداى دي نه کوي د دې اسلامي لوى او باشکوه سلطنت اقتدار په خپل لاس کي ونيسي، او اسلام خوار او ذليل کړي، يا په بله معنى خداى دي نه کوي اسلام د نړۍ له مخه څخه محوه او واخلي. دغه ده د نصاراو په زياته د انګليس نظريه. مګر نصارا سره له دې چي ترخې تجربې او د ناکامى مکرري نتيجې يې اخيستي دي تر اوسه په دې هيڅ نه دي پوهېدلي چي هيڅ کله به د دوى دا آرزو تر سره نه سي. ولي اسلام د يوه حقيقي نور څښتن دئ. او يو قوي ساتندوى لري چي په خپل پاک کلام کي يې مسلمانانو ته زېرى ورکړى او فرمايلي يې دي : "يريدون ليطفئوا نورالله بافواهم والله متم نوره و لو کرها

د مصطفی صغیر د بیان تر تمامېدلو وروسته عالي محکمې خپله قطعي فیصله ولیکله او داسي یې ولوستله : "مصطفی صغیر د ذکریا زوی چي عمر یې ۳۴ کاله دئ او د هند په پېښور کي زوکړی او د برطانیا تبعه دئ د دې استنطاقه څخه دا خبره ښکاره سوه چي دی د انګلستان د حکم او هدایاتو په موجب د ترکیې د احرارو د حالاتو د پلټني او د لوی غازي د وژلو له پاره انقرې ته راغلی دئ، انګرېزي حکومت لومړی پلا مصطفی صغیر د کرنیل نیلسن د انګلیسي استخباري اداري لوی منصبدار په استنبول کي په معاوني رالېږلی سوی دئ هغه ملزم په استنبول کي یو انجمن (د خلافت حلیف تورکي هندي جمعیت) په نامه تشکیل کړی و وروسته د انجمن په نماینده ګي اناطولیه ته رالېږل سوی څو په آخر کي دی د انګلیسي پروګرام د تکمیل له پاره انقرې ته راغی، فرید جاوید د ایلري اخبار مدیر چي دا ګړی د مصطفی صغیر سره په دې سفر کي شریک دئ هم د ده سره په جرایمو کي اشتراک لري.

وروسته د انجمن له خوا د اناطولیه په نمایندګي منتخب سوی

---

الکفرون". په ختو کي چي هر څونه سړی د بې عزتی له پاره وخېژي او لغت یې کي په هغه اندازه ختي پخې او ټینګي سي، خپل اصلي جوهر ښکاره کوي، دغه رنګه اسلام چي هم هر څومره غمونه او مصیبتونه ورپېښېږي هغونه هوښیار او تر پخوا زیات د خپلو دیني او دنیوي دښمنانو په مقابل کي درېږي. لکه چي د مثال له پاره فعلاً افغانستان، ترکیه، ایران، حجاز، عراق، مصر، شرق اردن، شام، اندونیزیا حاضر دي. که څه هم بعضي د اسلام اعضاء لکه لیبیا، مراکش او نور هم د غفلت د خوبه څخه راپورته سوي او د خپلواکۍ د حاصلولو له پاره چي زموږ د دیني او فطري حقوقو څخه یو حق دئ کوښښ کوي او اوس لږ څه کامیاب سوي دي، مګر انشاء الله ژر به دوهمه پلا اسلامي شان و شوکت چي د لاسه یې وتلی و حاصل کړي. (ژباړن)

او پـه آخر کـي د انګلیس د پروګرام د تکمیـل لـه پـاره انقرې تـه راغـی، ځکه نو له هغه مکتوبو څخه چي په کېمیاوي اجزاوو لیکل سوي او د مصطفی صـغیر او کرنیـل نیلسـن تـر میـانځ مبادلـه سـوي دي د فریـد جاوید په ذریعه اجرا سوي دي، له تحقیقاتو څخه ثابته سوه چي ملزم د ترکیې د استوګني په موده کي همېشه د اناطولیه روپوټونه انګیستان ته استول. او هم ملزم پـه خپـل جرم او جنایت اقـرار کړی دئ. ځکـه نـو مصـطفی صـغیر او درمهـار د دغـو کـرپـه اعـدام محکـوم دي، فریـد جاوید او د بغداد د بلدیې پخوانی رئیس چي مصطفی صغیر د خپـل استنطاق په ضمن کي دوی په خدماتو اعتراف کړی دئ، د ده معاونان بلل کېږي، فقط د جاسوسی او پلټني له پاره انقرې تـه راغلي وه، پـه دائمي حبس محکوم او دغه د دوی دوو له پاره سزا وټاکله سوه.

لکه د عدلیه د هسکي محکمې د تصویب او حکم په اثر چي د انقرې د حکومت د جشـن پـه ورځ بـه د جمهوریت پـه لـوی میدان کـي د وګړو له خوا اول مصطفی صغیر او پـه پسې بـه درمهـار پـه دار وځړول سي.

په همدغه توګه د ترکي احرارو یعني کمالیونو لـه خـوا د اسلامي خائنانو او مسلمانی خرڅوونکو یوه صحیحه سزا او مجازات ورکړه سوه.

# شپږم فصل

## جنانه خپل مقصد ته رسیږي

ګهیځ دئ او د ورځي ۹ بجې دي، د انقرې وګړي ډله ډله خورا خوشحاله او په خندا پر سړکانو او د ښار په هره لار کي په حرکت کي دي او زیاتره د انقرې د لوی میدان خوا ته روان دي، ځکه چي نن د انقرې د ملي حکومت د جشن لومړۍ ورځ ده، او سم د عدلیه محکمې د اعلانه سره پر ۱۰ بجو په دغه ارت میدان کي د اسلام هغه خاینان په دار وي. هر سړی یو پر بل سبقت کوي چي د اسلام د خیانتکارانو دغه سزا پخپلو سترګو ووینې او خوشحاله سي.

مصطفی صغیر سره د خپل خاین ملګري درمهار د عسکرو په حفاظت کي د میدان په میانځ کي دار ته نژدې ولاړ دي، حاضرین ټوله د کوټوالۍ د قوماندان د راتګ انتظار کاږي، ۱۰ دقیقې لسو بجو ته پاته وې چي قوماندان د یوې ټولګۍ عسکرو سره میدان ته راغی او د مصطفی کمال پاشا فرمان یې ولوست، او پر معین وخت یې مصطفی صغیر او د ده ملګری درمهار په دار کړه. وروسته د دې کار تر تمامېدلو قوماندان سره د وګړو د یوه لوی جمعیت د جشن د شمولیت له پاره د ملي شورۍ د قصر و خوا ته حرکت وکړ، فقط چي دوی د قصر دروازې ته ور ورسېدل مصطفی کمال پاشا د غټانو او

هغو رجالو او لوړو صاحب منصبانو سره چي جنانه هم پکښې وه د ملي شورا د قصره راووت، يوه عسکري دسته چي د سلامۍ د نيولو له پاره ولاړه وه، په فوق العاده حرارت يې سلامي ونيوله. د انقرې وګړي چي شمار يې ۴۰ زرو ته رسېده، د دې اسلامي لوی غازي قايد ليدلو ته ټوله په اتفاق منتظره وه، په عسکري سلامي پسې متصل د (ژوندی دي وي مصطفی کمال پاشا)، (تل دي وي د ترکيې استقلال)، (نېستي او محوه دي وي د اسلام اعداء) ږغونه کول، وروسته د سلام تر قبلولو او عمومي احوال پوښتني، هغه غازي د خپلواکۍ د منار له اړخه چي د ملي شورا قصر ته په يوه عالم شوکت لکه ښکلې جګه ناوې سر اسمان ته رسېدلی ولاړ دئ ودرېدل.

جنانه د هغو خيالاتو په اثر چي د خالده اديب خانم د تأليف څخه يې په زړه کي تموج کاوه د دې باعث وګرځېده چي يو فوق العاده اقدام وکړي، او په نتيجه کي دا اسلامي خدمت په کامياب ډول خاتمه ومومي، د ډېري خوشحالۍ څخه په کميسه کي که نه ځايېده، مصطفی کمال پاشا وروسته تر افتتاحيه نطق او جوابيه وينا تر اورېدلو چي د ښار د منتخبه وکلاوو له خوا وسوه وويل:

"دا تاسي ټولو ته ښکاره ده، چي د اسلام د يوه لوی مخرب او خاين مصطفی صغير او د ده د ملګرو لاس ته راتله يوازي د دغې نجلۍ (اشاره يې جناني ته وکړه) په توجه او سعيه او فداکارانه جديت سوي دي، ځکه د هغو ټولو جانفشانۍ او صداقت په صله او عوض کي چي د اسلامي او ايماني و وجداني وظيفې په مقابل کي يې خپل ژوند نه دئ سپمولی او انتهايي کوښښ يې کړی دئ په دې د وهمه درجه حربي نښان سرلوړې سوېده". وروسته يې جنانه چي غازي مصطفی کمال پاشا ته نژدې د غټانو په ډله کي ولاړه وه

راوغوښته او پخپل لاس یې نښان دده پر سینه ور وواهه، د هري خوا څخه چکچکي او د خوشحالۍ نارې او رغونه (ژوندۍ دې وي ترکیه) پورته سول. وروسته مصطفی کمال پاشا خپل لاس جناني ته ورکړ، د تشکر او صمیمیت اظهار یې څني وکړ او مبارکي یې ورکړه، د ویناوو تر ایرادولو او نښان تر ورکولو وروسته د وګړو هجوم د جشن د شمولیت له پاره سره متفرق سو.

جنانه یوه هفته نوره هم په انقره کي پاته سوه، وروسته د علي شوکت بېګ کنډکمشر په ملګري د ریل په ذریعه استنبول ته وخوځېده، په لاره کي د انقرې د لیډرانو په تحریک کې خبري کړي وې، چي د حیدرپاشا استېشن ته ورسېدل دواړه په یوه کوچنۍ بېړۍ کي کښېنستل، استنبول ته رهي سول. په دې اوږده سفر کي دوی دواړه یو د بل په طبیعت، اخلاقو او عاداتو سره بلد سوي او د دواړو زړونه یو د بل په مینه او محبت ډک سوي وه، او س چي بېړۍ د بحر په څپو سره په اضطراب مسافت قطع کوي دوی دواړه هم په خپلو زړونو کي یو د بل محبت محسوسوي، هیڅ یو یې اظهار نه سي کولای، څو په آخره کي علي شوکت جرئت وکړ سکوت یې د مابینه څخه واخیست او پوښتنه یې وکړه: "محترمي خانمي! که دي خوا نه بدېږي یوه پوښتنه در څخه کوم".

جناني جواب ورکړ: "استغفرالله! ستا په پوښتنه به مي څنګه خوا بدېږي، هر څه چي دي په زړه کي وي وو وایه، په ډېر افتخار یې جواب ته حاضره یم".

علي شوکت بېګ وویل: "خانمي! مګر کولای سم چي ستا د ژوند د شرکت عزت حاصل کړم؟"

جنانه شرمېدلې او خجله سوې په ضعیف آواز یې جواب ورکړ:

"هو ! زه د ژوند دا ملګري او رفاقت مبارک بولم، او دې ته آماده یم چې ستا دا غوښتنه قبوله کړم".

د یوې میاشتې څخه را په دې خوا د مازدیګر له خوا څخه یوه ګورم چې دوه روحه خورا خوښ او خوشحاله په خورا خندا او خوښي تر شنو ونو لاندې پر زرغونه مرغه او شنه سبزه د باسفورس پر ښکلې او ښایسته غاړه قدم وهي او سره ګرځي.

دا څوک دي او ولې داسې خوښ او خوشحاله و خندان معلومېږي؟

دا دوه روحه لکه چې علي شوکت بک کنډکمشر او جنان خانمه دي. ښایي چې واده یې سره کړی وي، هو ! دا دوه خوشحاله روحان د دوی دوو پاک روحان دي او د انقرې د ترکي احرارو د بري موندلو د اطلاع په مناسبت چې د غازي مصطفی کمال پاشا تر قیادت لاندې یې د یونانیانو په مقابل کې حاصل کړی دئ، او د دې جهته چې دوی یو له بله ازداج سره کړی دئ خوشحاله او مسرور معلومېږي.

ښه ! راځئ چې موږ هم زیاتي د دوی د نشې خار نه سو، خپل د زړه له کومې مبارکۍ ور وړاندې کړو، او د ښتن تعالی څخه د دوی له پاره د نورو ډېرو برجسته خدماتو توفیق وغواړو.



Download from:aghalibrary.com